Dec. 22, 1957

کابل

د ۱۳۳۶ کال د جدی (۱)

د ۱۳۷۷ کال د دریمی خور (۳۰)

د ۱۹۵۷ کال د سمبر (۲۲)

په دی ګڼه کښی :

ښه حاکم - سوسیولوژی..

انسانی پوهه - د ژبی

پیدا ایښت او تکامل .

یوه ورځ - په پښتو خبرې -

څه بویه؟ - کورته ولاړ شمه

او که ... ؟ نوې میاشت -

دا ټول د خدای (ج) ...-

راغلی لیك - د پښتو ژبی

یو زوړ گرامر - د تاریخ

اصول یا ... د جبران خلیل کتاب

د لولی

پر له پسی ګڼه (۴۴)

ښه ..... حاکم

هغه چه نه نفس لری نه نفسی خواهشات .

نه ئې په زړه کښې ډارشته نه طمع .

نه له موقوفۍ وېرېږی نه د ترفیع پروالری .

نه رشوت اخلی نه تنخواه .

نه له چا سره عنادلری نه د چا مراعات کوی .

نه د چا مخ گوری نه د چا څټ .

نه زور وریږنی نه غریب .

نه ئې څوك خپل دی او نه بردی .

نه سفارش منی نه تملق اوری .

نه چاته خاندی نه چاته وچولی تربووی .

پوهېږی ؟! دا حاکم څوك دی ؟

هو ! قانون او عدالت .

« غوره نثرونه »

(۲۷ کال)

(۱۸) گڼه

کابل

پښتو ژبنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند: د پښتو ټولنه

د پښتو ټولنې مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر: م، د، «ژواك»

پته: کابل، نادر پښتون واټ دیل خشتی دیله مقابل د تیلفون نمبر (۲۱۲۹۱)

ښاغلی پلټنوال

سوسیولوژی- فیزیولوژی

سوسیولوژی: دا کلمه یوه مرکبه لاتینی کلمه ده چه ددوو منفردو لاتینی کلمو څخه منځ ته راغلې ده

سوسیوس : د جمعیت - هم مسلک - هم جماعت او لوژی د علم معنی لری ، او اصطلاحاً د جمعیت او ټولنی په علم باندی، چه لمړنی مبحث ئی فامیل- کلی- ښار او بیا یو مملکت دی، اطلاق کیږی. په علمی صورت سره د سوسیولوژی شرح او تفصیل هغه قوانین دی چه دهغه په واسطه د انسانی اجتماعاتو او ټولنو د یوتر بله ژوند شرح او بحث په کښی کیږی.

ددې علم مشهور علماء دا دې: هوبس- روسو- گومت- ماکس ویبر- تونیس او جان دیوی.

* * *

فیزیولوژی: یوه مرکبه لاتینی کلمه ده چه فیزیو د جسم. طبیعت، ماحول، او محسوسو شیانو او داسی نورو معناوی لرې او لوژی د علم معنی ده فیزیولوژی هغه علم ته وائی چه دهغه په واسطه د حیواناتو- نباتاتو جسم او دهغوی بدنی فعالیت- موجودیت- ساختمان- او د اعضاو- وظائف او ددوی ارتباط او فعالیت یوتر بله سره په پیژندل کیږي .

په مختصر ډول فیزیولوژی په علمی صورت سره د درستو اعضاو شرح او تفصیل دی .

ښاغلی محمد صدیق «روهی»

دادبیاتو دپوهنځی محصل

انسانی پوهه

کله چه یو وړوکی هلك نوی دژوند صحنې ته ورننوځی په لمړی نظر له ډېرونا آشنا او مرموزو نمایشونو سره مخامخ شی. ډول ډول رنګونه اور از راز تماشې وینی. دغمونو او خوشحالیو بېلې بېلې نغمی د ده سامعی ته رسیږی او حس کوی ئی. مګر داوړوکی ماشوم تر اوسه د دې مختلفو رنګونو او اهنګونو په تمیز او ادراك نه دی قادر. دده د دماغو پر سپینه لوحه دغم او خوشحالۍ دقهر او مینی. د ګټې او زیان مفکورې نه دی نقش شوی او نه تر اوسه د دوست او دښمن، ښه ښه او بد، ثواب او ګناه په فرق پوهیدای شی. دی هر شی ته دحیرانتیا او تعجب په سترګه ګوری او د ژوند له ترخو حقایقو څخه بلکل نا خبره وی.

د زمانې په تېر ېدو سره د هلك په ټولو اعضاو کښی هم تحول او بدلون راځی دلیدنو کتلو او ازموینو په تکرار سره دده په دماغو کښی ځینی مفاهیم پیدا کیږی. ورو ورو د خپلی مور، خوږه، نرخه، لرې، نژدې سوړ، تود، سپین، تور او داسې نورو دمفهومونو سره آشنایی او پېژندګلوی پیدا کوی او ددې شیانو دادراك سره سره دلذت او الم په معنی پوهیږی او د کټورو او زیانمنو شیانو دپېژندنې دپاره په تجسس او پلټنه کښې لویږی تر څو چه دخپل ماحول او چاپېر په ماهیت او واقعیت باندې پوره ځان وپوهوی.

لکن ایا انسان کولی شی چه دهر یوه شی په حقیقت او ماهیت باندې پوره احاطه او تسلط پیدا کړی؟ آیا کوم شیان او حادثات چه دی یی ادراك کوی خارجی وجود هم لری او که یوا ځی د ده د ذهنی تصور مولود دی؟

ددی پوښتنې ځواب څه آسان کار نه دی او دامسأله لا تر اوسه دپوهانو او فیلسوفانو په منځ کښی نه ده حل شوی. فلسفه او علم (ساینس) دواړه زیار باسی چه دې پوښتنې ته یو اړخیز او مثبت ځواب ورکړی په لمړی سر کښی دې موضوع په فلسفه اړه درلوده اما ښکاره ده چه دعلم قوا ورځ په ورځ دفلسفې په حدودو کښی پر مختګ کوی او ترنن ورځې پورې ئې د فلسفې ډېری منطقې لاندی کړې او نیولی دی حتی ګمان کیږی چه دفلسفې امپراتوری مخ په ړنګید واو پر یوتووی راځی، چه د انسانی پوهې په متعلق اول له فیلسوفانو څخه پوښتنه وکړو چه دوی په دی برخه کښی څنګه قضاوت کوی.

دحقیقت د کشف او پېژندلو په برخه کښی فیلسوفان یو تر بله اختلاف سره لری یوه ډله دحقیقت د پاره یواځی تعقل کافی بولی او مشاهدې او تجربې ته څه اهمیت نه ورکوی بلکه وایی: هر کله دانسان حواس له سهوې او خطا څخه لری نه دی نو ځکه باید دحقیقت دپېژندلو دپاره له مجرد

تعقل څخه کار واخلوه دی دول فلسفي ته راسیو نا لیزم Rationalism یا د عقل اصالت وائی. ځینی نور فیلسوفان د حقیقت د پېژندلو د پاره یواځې مشاهده او تجربه معیار ګڼی او دانسانی پوهی مبدأ او مشأیر تجربه او مشاهده (کتنه او ازموینه) بنا کوی دي دول فلسفي ته امپریزم Empirism یا د تجربی اصالت وایی. او بس اوس به په دی موضوع کښی د دواړو خواوو دلائل څه نا څه بیان کړو.

۱ - راسیو نالیزم: ظاهراً برمانیدس لمړنی فیلسوف دی (۱) چه ویلی ئی وو. «د حقیقت د پېژندلو د پاره باید ظاهری حواس څنګ ته وغور ځو واو حقیقت یواځې د مجرد تعقل له لاري لاس ته راولو. له ده څخه وروسته افلاطون د افلسفه په تفصیل سره بیان کړه. د افلاطون عقیده د انسان په نفس کښی علم په نهانی حالت سره موجود دی او تر دي موجوده ژوند پخوا انسان په هرشی پوهول شوی و، له دي عبارت څخه داسی څرګندیږی چه علم د انسان د پاره یو فطری شی دی او بشر د پیدایښت له ابتدا څخه په هرشی پوهیدلی دی. تر افلاطون وروسته زیاتر حکماؤ د ده درائی طرفداری کړی ده. مالبرانش وائی: «کوم لذت او الم چه د شیانو له تاثیراتو څخه ئی درک کوو په حقیقت کښی د اتاثیرونه د هغو شیانو څخه نه دی پیدا شوی بلکه د ازمونږ د خپل نفس حالات دی یعنی کوم عوارض او پیښی چه زموږ په نفسونو کښی پېښیږی او د هغو نسبت خارجی شیانو ته ورکوو په خطا سره هغو ته یو حقیقت فرض کو.» (۲)

د مابرانش د مقصد د بیان د پاره زه یو ساده مثال راوړم مثلاً که مونږ یو کیلاس شربت وڅښو کوم خوند او لذت چه مونږ د دي شربت د څښلو څخه آخلو هغه په شربت پوري څه اړه نه لری ځکه شربت یخپله نه خوږ دی نه تریخ بلکه زموږ نفس یا روح یو داسی حالت غوره کوی چه هغې څخه مونږ خوند اخلو او هغه حالت ته خوږ وایو.

ښایی چه د افلاطون او مالبرانش نظریی د بر خلك په آسانه سره تردید کړی او حتی د سپینوزا رایی چه وایی: «کومه پوهه چه په عقل او وجدان سره حاصله شی خطا نه لری او خطا یواځې په هغه پوهه کښی لاس لری چه د حس له لاري څخه پیدا شی (۳)» له مبالغې د که ورته ښکاره شی، مګر په دي کښی هم څه شك نشته چه د انسان خواص هم اشتباه کوی مثلاً که بولر ګی چه یوه برخه یې په ابو او بله برخه یی په هوا کښی وی کوزلیدل - کیږی.

او همدارنګه راسیونالیستان ادعا کوی چه د اقلیدس هندسه په مجرد تعقل بناء شوی ده د نقطې او خط تعریفونه ذهنی تصور دی. په منطق او رضیاتو کښی هم که له مجرد تعقل څخه کار وانخلو تجربه او مشاهده زمونږ سره کمك نه شی کولای د مثال په ډول د لا یتناهی کلمه په ریاضیاتو کښی استعمالیږی اما د تجربې په وسیله مونږ چا ته

(۱) سیر حکمت در اروپا (۱۰ مخ اول ټوك)

(۲) هماغه کتاب (۱۵ مخ دوهم ټوك)

(۳) سیر حکمت در اروپا (۳۷ مخ دوهم ټوك)

لایتناهی نه شو ورښو دلای یا د منطق په علم کښی عینیت، عدم تناقض او ذهنی امتناع مجرد تصورات دی چه ټول عقلونه یی په یو شان سره منی بېله دې چه له چا څخه زده کړای شی لکه یو سړی چه ووایی: دا شکل هم مثلث دی او هم مثلث نه دی نو مخاطب سړی که څه هم مثلث ونه پیژنی د هغه بل ادعا به ونه منی ځکه دا نسان عقل باالفطره دا نه شی منلای چه یو شی دې (همهغه) او هم غیر له (همهغه) څخه وی.

۲- امپریزم: لکه چه پخوا وویل شول دامپریزم مبدا او منشأ د تجربی پر اصل بناده. ارسطو د افلاطون شاګر لکه څنګه چه په زیاتو افکارو کښی د خپل استاذ. سره مخالفت لری په دغه مورد کښی یی هم د افلاطون پر ضد رایه قائیمه کړی ده.

ارسطو چه په دې برخه کښی کومه نظریه ورکړې ده حقیقتاً د قدر وړده او ننی علم هم تر زیاتی اندازې پورې دده رأیه درسته ثابت کړې ده. دی وایی چه دا نسان ذهن یوه مجرده لوحه ده چه د خپل استعداد په درجه هغه معلومات چه د حواسو په ذریعه اخلی په دې لوحه کښی نقش کړځی او د حافظې په سبب ورته تجربه حاصېږی او عقل هغه معلوماتو او تجربو ته پالنه ورکوی او کلی نتیجې تری اخلی.

له ارسطو څخه په وروستینو فیلسوفانو کښی اپیکوریان او رواقیان هم په دې رأیه ولاړ وو چه انسانی پوهه په محسوساتو پورې اړه لری او معقولات هم د محسوساتو نتیجه بلل کیږی مګر دا فلسفه جان لاک انګلیسی مشهور فیلسوف په خوراښه ډول بیان کړه: د جان لاک په عقیده معلومات یا ذهنی تصورات فطری نه دی ځکه که انسانی پوهه فطری او بولونو باید ټول معلومات همیشه په ذهن کښی حاضر وای او که ووایو چه معلومات فطری دی اما انسان له هغې څخه ناخبره دی دا خبره بېمعنی او تناقض لری همدا رنګه که پوهه فطری وای د هغې زده کړی ته څه حاجت نه پاتې کېده نو ښکاره ده چه ماشومان، وحشیان او عوام له ډېرو معلوماتو څخه بې برخې دی او ځکه چه انسان له ورو کوالی څخه معلومات او پوهنه پیدا کوی په آخر کښی داسې ګمان کوی چه دا معلومات یې په ابتدا کښی هم درلودل. دا چه ځینی خلک وایی ځینی معانی او مفهومونه د ټولو خلکو له خوا منل شوی دی او فطری دی اشتباه ده ځکه چه مسلمه نه ده چه د ټولو خلکو له خوا منل شی (۱) که وی هم له نورو څخه یی زده کړی دی دا چه ځینی پوهان عقیده لری چه ځینی مفهومونه فطری دی لکه عینیت، څښتن تعالی او داسې نور اخلاقی اصولونه درسته خبره نه ده ځکه ډېر قومونه شته چه د باری تعالی په باره کښی د دوی سره څه تصور نشته او که وی هم، آیا د یوه شپانه تصور د خدایتعالی (ج)

---

(۱) مثلاً هګل او ځینی نور پوهان د ضدینو اجتماع ممکن بولی، د دوی د دلائلو بیان ځانته ژوره مطالعه غواړی. یعنی په دنیا کښی هیڅ ثابت فکر نشته چه ټول خلک ئی په یو شان ومنی.

په باره کښې هماغه دی چه حکیمان اوعارفان ئې لرې ښکلا اوبد، رنګې، حلال او حرام، ښه اوبد فطري اصول نه دی. دېر شیان شته چه په ځینې قومونو کښې محترم دی او په ځینې نورو قومونو کښې په سپکه سترګه ورته کتل کیږي. که ښه اوبد حلال او حرام فطري شی وای باید ټول خلك دهغو په باره کښې متفق او په یوه خوله وای همدا رنګه ښکلا او جمال یو نسبي شی دی دچا په نظر کښې یو شی ښکلی دی اما دبل په نظر کښې منفور دی.

که له خلقو څخه پوښتنه وشي چه ولې پلانی شی ته ښه وایې ځواب به یې داوي چه خدای پاك هغې ته ښه ویلی دی، یا داچه زما زړه او وجدان دهغه پر ښېګړه شاهدی ورکوي، یا د انساني شرافت مقضی دی چه هغه شی ته ښه ووایو. نو سره د دومره اختلافونو آیا دا اصول فطري بللای شو؟ د بشر تنبلی او خود پسندی ددی مانع ګرځیدلی ده چه داشیاو پر حقیقت او ماهیت باندې پوره غور وکړي.

هوا په دې خبره کښې بابد جان لا ك ته تسلم شو چه اخلاق او افکار د ټولنې مولوه او محصول بلل کیږي د مثال په ډول په پخواني مصر کښې دخپلو خویندو سره هوروڼو ازدواج یو مشروع او شریفانه کار بلل کیده. عموماً وروربه دپلار له مرګ څخه وروسته دخپلې مور سره ازدواج کاوه حتی دفرعونیت یا سلاله کښې هغه چا دفرعون کېدل حق درلود چه دهغه وینه او نژاد په صفاو بې ګډه مور او پلار په خرګند ورور کېدل اما دزماني په تېرېدو سره هغه شریفانه کار حرام او رذیلانه وګڼل شو نو څو چه ځینو خلکو دې کار ته په دومره سپکه سترګه وکتل چه حتی ددې ډول کلمات تو او رېدلو ته هم حاضر نه شول.

نو له دې څخه جوتیږي چه دښو او بدو مفهوم دزمان او مکان په بدلېدو سره تغیر او تحول مومي خو کله چه ځینو خلکو ولیدل چه دېر اخلاقي اصول له ډېرې پخوازمانې راهیسې په یوه حال پاتې دي لکه غیبت دروغ ټګي ریا ظلم او داسې نور چه بشر تقریباً هر وخت او به هر ځای کښې هغې ته بدویلی دي نو ګمان یې وکړ چه دا اصول فطري دي

بې له دې چه ددې اصولو بناهم په تجربه بنا کړي او ووایي چه بشر له دغو اعمالو څخه پر له پسې زیان لیدلی دی نو ځکه یې هغو ته بدویلی دی.

لاك وایي چه په عقل کښې دمفهوماتو دایجاد سبب دادی چه عقل څو قوې لري (۱) ادراك (۲) حفظ (۳) تمیز او تشخیص (٤) سنجش (٥) دمعناؤ ترکیب (٦) تجرید. ددې قواؤ تفصیل به ې. لنډ مضمون کښې نه ځایېږي مونږ یوالحې دومره غواړو چه ګران لوستونکی په مختصر ډول سره ددواړو ډلو فلاسفه ؤ له نظریاتو سره لږ ه آشنایي پیدا کړي البته پوره بیان یې ځانته مستقل اثر ایجابوي.

اوس به دا دواړه فلسفي نظریې په علمي موازینو مقابله او پرتله کړو او وبه ګورو چه علم (ساینس) په دې برخه کښې ترکومې اندازې پرمخ ولاړ دی.

۳-علمی (ساینسټیفیك) نظریات:
په دې کښې څه شك نشته چه علم
هم د مشاهدې او تجربې پر اساس
بنادی په دې ډول چه له مسلسلو
تجربو او مشاهدو څخه کلی
اصول او پرنسیبونه راباسی او
تعمیم ورکوی علم کوشش کوی
چه د طبیعت اسرار کشف
کړی او له هغو قوانینو څخه
د خپل زړه په میل او آرزو سره
استفاده وکړی. تر اوسه پوری
ډېر موضوعات او اسرار شته چه
علم د هغو پر کشف باندې توفیق
نه دی موندلی مګر دانا کامی
د دې دلیل نه شی کیدای چه علم
به ترابده د هغو حقایقو له پیژندلو
څخه عاجزه وی د علمی اکتشافاتو
لمن ورځ په ورځ لوییږی او ډېر
هغه شیان چه تر اوسه خلکو ته
ناممکن ښکاره کیدل د علم په
زور ممکن ښکاره شول او که
څوك تعصب او بدبینی پر ېږدی
او پر علم اتکاء وکړی د ډېر
مشکلات به حل شی.
نننی علم ثابته کړی ده چه دماغ
یوه متفکره ماده ده که دماغ
نه وی فکر، ادراك، احساس
ذکاء، اراده، تکلم تحریر او
او داسې نور ذهنی فعالیتونه به هم
واقعی وجود پیدا نه کړی. اوس
به راشو د خپل مطلب تکی ته چه
آیا په دماغو کښې فکر له پخوا
څخه موجودی او که د تجربې له
لارې ئی کسب کوی ء دا ښکاره
خبره ده چه انسان تر څو یو شی
په ستر ګوونه وینی د هغه شی په
رنګ او جسامت نه شی پوهیدای
همدا رنګ که د یوه سړی آواز
چاپخوانه وی او ریدلی هغه سړی
د آواز او لهجی له مخې نشو
پېژندلای هغه څوك چه له دژوند
له لمړی ورځې څخه دنیا ته
ړانده راغلی وی د تور او سپین
په معنی هیڅکله هم نه شی
پوهیدای. پر همدې اساس
د انسان دماغ تر څو یو شی نه وی
احساس کړی د هغه شی په ادراك
هم قطعاً نشی بریالی کیدای.
د انسان به دماغو کښې هیڅ
یو فطری تصور او فکر وجود
نه لری بلکه د یوې سپینې لوحی
مثال لری چه د هر راز لیک
او نقش ایستلو د پاره استعداد
پکښې شته یا لکه د یو ګرامفون
ټیکلی چه د هر ډول نغمی ثبتولو
د پاره آماده دی. کله چه یو
فکر د حواسو په وسیله دماغو
ورسیږی دماغ هغه فکر په
مخصوصو حجرو کښې بند وی
او د ضرورت په وخت کښې
کار ترې اخلی. د خبرو، لیکلو
فکر، ذکاء، ارادې، حافظی
او داسې نور و ذهنی استعدادونو
د پاره دماغ بېلی بېلی حجری
لری که کومې حجرې ته صدمه
ورسیږی هغه استعداد هم زیانمن
کیږی مثلاً په لمړی او دوهم
عمومی جنګ کښې ډېر داسی
کسان لیدل شوی دی چه د دوی
د دماغو یوې برخې ته به صدمه
رسیدلی وه ځینو حافظه له لاسه
ورکړی وه، ځینو خبرې نشوای
کولی، چالیکل هېر کړی وو
او وروسته له معاینې او کتنی
څخه به دا معلومه شوه چه د دوی
د پورتنیو استعدادونو متعلقه
حجرې ضایع شوی دی.
د انسان دماغ په عمومی ډول
سره دری رازه فعالیتونه لری
(۱) د حواسو په ذریعه د افکار و
او حوادثو کیفیت درك کوی (۲)
د احوادث او کیفیتونه په خپلو
مخصوصو حجرو کښې ثبتوی (۳)
حاصل شوی معلومات یو تر بله سره
(پاتی په ٦ مخ کښې)

فلالوژیکی مبحث

ښاغلی حبیب الله «تبزی»

دژبی پیدایښت او تکامل

دژبی دپیدا یښت او تکامل مطالعه دژب پوهنی له مخې: کله چه په علم کښی هم دتجریب او مشاهدې له دوری سره سم وروسته ترکمو تغیراتو کیفی تغیر منځ ته راغی او د علم د انقلاب رڼا په جهان کښی دتولو نورو انقلابونو په څیر وروسته دارتجاع دتوری پردی دڅیرولو څخه خپره شوه، داوهامو اوعنعنه پرستۍ بتان ورځ په ورځ مات شول اودعلم په ټولو ساحو کښی په زعزد سره نظریات څرګند شول

دانظریات څنګه چه درمانی غوښتنه وه دژب پوهنی په برخه کښی هم ددیالکتیک د اصول سره سم انقلابی او درسي نظریا وو چه د تجریب او مشاهدی په مرسته ئی لرغونی نظریات په ښکاره ډول سره باطل یا په بل عبارت منسوخ وبلل، ځکه دوی دبیولوجی دارتقاد نظریی سره سم چه مونږ ددی مقالې په لومړۍ برخه خبری پری وکړی دژبې په برخه کښی هم دتدجی تکامل عقیده ومنله او «داورنیسم» دآساس سره سم یی په ټینګه وویل چه ژبه له ډیری ساده بڼی او ابتدائی غږونو څخه دې ننۍ مرکبی او هغی بڼی ته را رسیدلی ده چه غږونو ځانه مخارج او منظم شکلونه غوره کړی دی.

دوی نوره داخبره ونه منله چه ژبه کومه طبعی حادثه او یاخدایی عطیه ده چه دخدای تعالی له خوا راسا او په تکامله بڼه بشرته ورکړل شوی ده بلکه وی ویل چم په خپله دانسانانو له خا جوړه او په تیریدو دمهال متکامله شوی ده. ځکه دوی دتجریب او مشاهدی له مخی دې ته راغلل چه دژبی لومړنۍ بڼه هغه غیرمنظم غږونه دی چه انسانانو دځینو عواملو له مخی دیولړ حرکاتو سره توام دغږیز جهاز څخه رایستل او بیایی یو بل ته سره او رول.

مثلا کله به که په لومړی سر کښی انسان (وروسته دتجربی دحاصلولو څخه یعنی هغه وخت چه دی په دې پوه شو چه زمری سړی وژنی) دکوم ځنګله په منځ کښی د ځینی څیرونکو ځناورو سره لکه زمری او یا نور مخا مخ شونو به بی دویری له مخی چه دژبی د جوړښت دعوا ملو څخه یو ستر عامل دی یو غږ غږیز جهاز څخه رایوست او ددې غږ معنی وروسته دڅه مهال دتیریدو او تشخیص څخه داشوه چه: (زمری راغی!) یا (وتښتیء!) یا (ځانونه وساتیء!) او یاداسی نور.

(دپنځم مخ پاتې)

ګډوی، له هغو څخه نوی مفهومونه او ددوی یو تر بله روابط سره پیدا کوی.

که مونږ دجان لاك هغه قوې چه دماغو ته یی منسوبې کړی دی په نظر کښې ونیسو نور به په دې مورد کښی شك او تردید ته ځای ورنه کړو او وبه وایو چه انسانی پوهه یواځې پر تجربه او مشاهده بناده اور ښتینی پوهه هم هغه ده چه د تجربی او مشاهدې دلاری څخه په لاس راشی

یا تر دی نه هم بخوا انسانانو
دهنر او یا ښکلا دخوښو لو په
اساس یو ډول غیرمنظم غږونه
دستونی څخه راښکل چه ددی
ادعا دا ثبات ډیر ستر دلیل
کوچنیان او یا ګونګیان دی
ځکه کله که سړی دغو دوو ډلو
ته لږ څه ځیر شی نو به دا خبره
پوره ورته ثابته شی چه دوی
د یوازی توب په وخت کښی
دخپل ځان د مشغولا د پاره یو
ډول او ازونه دستونی څخه
راباسی او غور غور کوی. چه
دغه اوازونه دحرکاتو او
خوښی سره تل ملګری وی. دغه
ډول کله که مونږ تر ټولو نه
متکامل ساه کښ یعنی انسان
پریږدو او تر ده ډیر کښته
او غیرمتکامل سا کښ په ستر ګو
کښی ونیسو هلته هم دا خبره
پوره څرګندید لای شی.

مثلاً کله که په یو ځانته
وخت کښی د کوم ځنګله یا
بڼ خواته ولاړ شو هلته به
ډیر ژر زمونږ غوږونه دډول
ډول غږونو سره اشنا شی، چه
دا غږونه دځیڼو مرغانو غږونه
او ددوی دهنر یا ښکلا د خوښولو
نتیجه ده. ځکه پرته له دی نه
د دغو زړه وړو نکو غږونو
دتولید د پاره بل هیڅ دلیل هم
نه شی موندلای.

دهمدغو پورته او یا ځینی نورو
دلایلو په آساس، چه ئی زه دلته
یادونه مناسب نه بولم او دژبی
دتکامل دڅرنګوالی یا دژبی
او غږ دپیدایښت دعوا ملو تر
عنوان لاندی به مفصلی خبری
پری وکړم، ژب بوهانو په قاطع
ډول سره خپله دا نظریه څرګنده
کړه.

چه ژبه دبشر دتاریخ دتېرو
دورو دنوابغو دتفکر، تجربې
او بلټنې محصول ده دوی ژبه
هم دماشین، بر ېښنا او یا ځینو
نورو اختراعاتو په دود پخپله
انسانی اختراع و بلله او وې
ویل: ژبه دهغو ربړونو نتیجه
ده چه د نو موړ و خلکو دخوا
ګالل شوی دی مګر دلته دا
خبره هم دیادولو وړده چه دژبې
مخترعین دراډیو یا بر ېښنا په
څیر کوم څرګند تا کلی او
یا څو کسان نه دی، چه ئی دنړۍ
دګوتونو څخه په کوم ځانته
ګوټ کښې اختراع کړې وی
بلکه دنړۍ په بېلو بېلو ګوټونو
کښې دبېلو بېلو کسانو له خوا
په ځانته ځانته بڼه جوړه شوې او
بیا متکامله شوې ده.

دادی اوس نو دخپلو پورته
خبرو له مخې بېرته خپلې هغې
لومړنۍ پوښتنې ته ور ګرځم
چه ژبه څنګه پیدا او متکامله شوه؟

ما دخپلو دغو لړ مقالو یا دوهمه
برخه کښې ویلی ؤ چه دپورته
سوال دځواب دور کولو نه
پخوا باید دژبې دمطالعې په
څرنګوالی باندې خبرې وکړم
تر څو چه په پای کښې د پورته
سؤال دعلمی او مثبت ځواب په
ور کولو باندې قدرت پیدا کړم
ځکه یو په یو او اټکلی ځواب
دعلم او پوهې کار نه ګڼل
کیږی بلکه په اصطلاح دا ډول
بې مطالعی او مقصدې ځوابونه
له خولې څخه د خوسکیانو
غور ځول یا چټیات دی.

دژب پوهنې له مخې دژبې
آساسی مطالعې ننی پوهان واړه
په دې باندې موافق کړو چه
دژبې پیدا ښت او تکامل
دبیلوجی دارتقا دنظریې سره سم
په لاندې ډول منځ ته راغلی دی:

ذوی وائی کوم وخت چه
انسان دیوه مکامل حیوان په
توګه دمځکې پرسر پیدا اودخپل
ژوند د سا تلو په هڅه کښې
شو (دې سوال ته چه انسان څنګه
دمځکې پرمخ پیدا اوشه ډول
د حیوانیت دډېر ساده شکل او
یادلومړنی ژوندی سلول دبڼې
نه دې ننی شکل ته وراوچت شو؟
د کار داسانتیا دپاره ددغه لړ
مقالویه لومړی مقاله کښې
ځواب ورکړل شوی اوبیا بې
څېړنې نه ضرورت نشته دی.)

نوئی دځینې عواملوله مخې
چه وروسته به دژبې دپیدایښت
دعوا ملو تر اعنوان لاندې
خبرې پرې وکړم یوډول غیر
منظم غږونه دخولې څخه را
وایستل، اوبهایې له دغوغږونو
څخه دیوه ستر مطلب یعنی افهام
وتفهیم دپاره استفاده وکړه چه
مونږ دغه دافهام اوتفهیم وسیله
ژبه وګڼله مګر داچه دغه غیر
منظم غږونه څه ډول منظم او
یوله بله سره جلا شول بیله خبره
ده چه دادی په لاندې ډول کښې
بې واضح کوم:

انسان کله چه په ځان دیو
ډول غیر منظم غږونو د تولید
قدرت دغږیز جهاز څخه ولید،
نو بې دهغو عواملو به آساس چه
مو یخوا اشاره ورته وکړه
داغږونه ظاهر کړل اووروسته
دظاهرولو څخه یې یوه لاره
داشوه چه باید دیوبل دپوهولو
اورایوهولو یا ځینې ابتدائی
مطالبو افکارو او احساساتو
دښکاره کولو دپاره ورڅخه
کارواخلی.

کاریې واخست او ځینې
لومړنی مطالب یې ددغو غږونو به
واسطه افاده او یا یې خپل
مطالب افکار او احساسات وربا ندې
ښکاره کړو اما څرنګه چه
دبشر ژوند دطبیعت دقانون او
دتغییر دمسلم اصل سره سم په تغییر
او تحول او داضدادو دمبارزې
داصل سره به تکامل کښې ژوند یې
به هغو غیر منظمو غږونو چه یې
دډېر ساده مطالبو او یا ذوق
دپاره څرګندول بسنه ونه کړه
بلکه هڅه یې وکړه چه دغه غږونه
یوله بله سره جلا او منظم کړی
یعنی دهر غږ دپاره یا ځانته
مخرج وتاکی چه دنورو غږونو

څخه رت بیل او متفاوت وی په
دې کوشش کښې هم دتجربې
او تمرین به واسطه بریالی شول
او دبیلو بیلو مخارجو څخه یې
ځانته ځانته اصوات راوایستل مګر
څرنګه چه دبشریت بهیر مخ په
وړاندې روان اوپه تکل کښې
ژوند یې بوازې په دغو متمایزو
غږونو هم اکتفا ونه کړه
بلکه به ورو ورو یې دغه
غږونه سره یوځای کړل چه
دیوځای والی څخه بې کلمې
او بیایې دکلمو دیوځای والی
څخه جملې جوړې کړې.
دمفهومونو دپاره یې نومونه وتاکل
او دنومونو به واسطه یې افاده
وکړه.

مګر دامهال هم دانسانانو
ترمنځ په یوره ډول کومه غنی
ژبه نه شوه موجوده بلکه یوه
ډېره ساده او بسیطه ژبه چه
بنا یې دخو کلمو تو څخه
متشکله وه دانسانانو په لومړنیو
ټولنو کښې رایجه شوه ځکه
څومره چه ددوی دفعالیت او نظر
ساحه تنګه او اوږه یې کمه وه
نو یې ژبه هم هومره بسیطه
یا تنګه وه. یعنی دامهال دوی

هغو شیانو ته چه په ژوندانه کښې
یې سرو کار ورسره لاره نومونه
لرل، خو څرنګه چه یې سرو کار
دډېرو محدو دو شیانو سره ؤ
نوئې ژبه هم دغسې محدوده او
یوازې دڅو کلماتو څخه جوړه
شوې وه . اما څرنګه چه ما په
تیرو مقالو کښې دژب پوهانو
نوی مطالعې دتجریب او مشاهدې
په آساسانو متکی و بللې نو دادی
دلته هم یو عملی مثال لیکم تر څو
چه مطلب په پوره توګه سره
افاده کړای شو .

کله که مونږ یو کوچنی
نوی زېږیدلی ماشوم په ستر ګو
کښې و نیسو او خبرې پرې و کړو
ګمان کوم ډېره ژر به دی خبرې
ته ورسیږو چه د دغه طفل دژبې
تکامل کټ مټ دلومړنیو انسانانو
دژبې پیدایښت او تکامل دی.
مګر په دی توپیر چه هر څومره
انسان مدنی کیږی نو یې
دژبې او لغاتو په برخه کښې
دپېښو او تقلید برخه هم زیاتیږی
مثلا کوم وخت چه دغه ماشوم
دخپلې مور څخه وزیږی (مطلب
نورمال ماشوم دی) نو طبعاً دغږیږ
چهاز خاوند او یادی ته مستعد
وی چه یو ډول آوازونه دخولې
نه راوباسی .

دا آوازونه څرنګه چه
مودا بتدائی انسانانو دژبې
دپیدایښت په آساس یو ډول غیر
منظم او ګډ آوازونه وی چه
یا یې طفل دهنر او ښکلا دخوښولو
یا ځان مشغولو په آساس
دغږیږ جهاز څخه راباسی او یا
دا حتیاج غم وېرې او داسې
نورو عواملو له مخې . مګر
دغه اوازونه په تېر بدو دمهال
او تمرین او تجربې ورو ورو
سره متمایز او منظم شی چه په
پای کښې یې دیو ځای کولو
څخه کلمې او د کلمو څخه
جملې یا یوه ابتدائی او ساده
ژبه جوړه کړی . خودا ژبه هم
څرنګه چه مونږ تاسو واړو دا طفالو
ترمنځ لیدلې څه وسیعه او متکامله
ژبه نه وی بلکه لومړی ډېره
ساده او بیا دطفل دتکامل سره سمه
مخ په تکامل روانه شی .
یعنی دما شومانو غږونه لومړی
یو ډول «غورها» ژړا او یا داسې
نور غږونه وی چه یې دځینې
عواملو په اثر دخولې څخه
راباسی او وریسی په ځینو ساده
مفاهیمو لکه «پا»، «مم» او یا
داسې نور بدل شی چه مونږ دغو
الفاظو ته دماشومانو لومړنۍ
ژبه ویلای شو .

وروسته له دې ځینې ابتدائی
کلمې یعنی هغه کلمې چه
یوازې په کور او دمور په غېږ
کښې ورته ضرورت لری دتقلید
په اساس زده او بیا د کلی او کوڅې
دژبې سره ځان آشنا کړی .
اما کله که دی له کلی او کوڅو
څخه هم و وزی یعنی ښو نځی
ته ولاړ شی نو یې ژبه نوره هم
پسې پراخه او دومره وسیعه شی
چه د خپل کلی همزلی ئې
نه پرې پوهیږی لنډه دا چه هر څو
مره چه دغه طفل په ژوندانه
کښې پرمخ ځی او دفعالیت او
مشغولیت سیمه یې پراخه کیږی
نو یې په هم هغه اندازه ژبه هم
پرمخ ځی چه دلومړنیو انسانانو
دژبې دپرمخ تګ او تکامل په
برخه کښې هم دغه کار پوره
صادق ګڼل کیږی یعنی څومره
چه دانسانانو ژوند ساده وژبه
یې هم هومره ساد او څومره چه
یې دژوندانه سویه لوړه شوه هومره
یې ژبه هم پراخه او متکامله شوه.

دادبګلونه

ښاغلی رشاد قندهاری

یوه ورځ

چه اثر له آهو او ښکو سره یار شی
وړه ما شه د نمرود د مغز و مار شی

د عمرو له آهو او ښکو جوهر مومی
ما ته لیچه یوه ورځ وی ذوالفقار شی

د وختونو نامرادی سره غونځی
د تختونو زلزلې د بخت ادبار شی

د قرنو د لولپه ځالو بڅرکی
سره څرمی د تقنس د مرګ انګار شی

د پېړیو پله کې لښتی پاتی وی
د عسسو د مرګی رسن او دار شی

د کلو د میځو غم د مریو ستونزی
د بادار سر بلا د مال ناتار شی

چه په شپوئې او بوی د مظلوم او ښکی
بوست بانه وی د ظالم د لېمو خار شی

چه دا اوښی له آزاره په ښور راشی
د جلال یوه ذره د اتوم پلار شی

د غزونی له کتابه

په پښتو خبری

د هغه ستر ګو پښتنو خبری
څنګه درنې وی د درنو خبری

د استړی ژوند دی مبارک شه مینی
زده چه اشنا کړې په لېمو خبری

زاهده پرېږده د تسپو خبری
کوی ما حول د زولنو خبری

درنه به وانه وړمه پوی شوی که نه!
در ته می وکړې په پښتو خبری

د نندی کونجی دی مغل خونه یم
چه کوې نن د تاتر و خبری

دا بو کنیدلی هوسۍ ستر ګی دی تا
وکړې نا څاپه د زمر و خبری

د حمزه زړه ته دلاسه ورکوه
دادی ارمانه د ځلو خبری

«د ژواک انتخاب»

ښاغلی اتمان

(څه بویه؟)

انس والف دانسان بویه له انسانه سره
هر بنی نوع ته خدمت له نوعي شانه سره

بشري باریه غاړه وړل له خپله توانه سره
په غم ښادي ورګډېدل له سوده زیانه سره

درمل دخوږ سوي زړګي له پرېشانه سره
د تلو لي نتلي زړه له لالهانه سره

په غریبانو لاس نیوی له ناتوانه سره
د یتیم او ښي پاکول له خوار اریانه سره

له ګاونډي سره ښه چله له انسانه سره
خوږه وروري سو له سلاله درست جهانه سره

مینه له حق سره لرل هم له ایمانه سره
حق دهر چا په حق شمېرل سم له وجدانه سره

په خپل ویل ښه پېرزوینه له احسانه سره
په ډانګ پېلي سپین ویل له سپین بیانه سره

دهر بدو مخ ته توکل له بدګمانه سره
رتل تر تل دهر دوه ژبی له شیطانه سره

ړندو ته سمه لار ښوول له ښه برهانه سره
کاږه په لاره سمول له کاږه شانه سره

زړه سوی پام فکر په کار بار کښی له حیوانه سره
مینه مابت له کار بګراو له دېکانه سره

وطن پالل دسر په وینه په مېړانه سره
د کام کبیل مینه ساتل له خپله ځانه سره

سر څوړول دورور په عم کښی له ګرېوانه سره
د کام په ننګه درېدنه له «اتمان» سره

چه دا خوی بوی په چا کښی نه وي مسلمان دی کله
بشر چه شر ته میل کاندي ها انسان دی کله



په دی پنځو شیونو کښی خیر نه شته ترڅوورسره دا پنځه نور یو ځای نه شی: په قول کښی خیر ترڅوورسره عمل ملګری نه شي، په لیدو کښی خیر ترڅوورسره عبرت مل نه وی، په مال کښی خیر ترڅوور کښی صدقه نه وی، په صدقه کښی خیر ترڅوورسره صحت ملګری نه وی (د ـ م ـ راټولونه)

ښاغلی محمد اسماعیل (زاهل)

گورته ..... ولاړه شمه

نه پوهېږمه چه بیده یمه که ویښه؟ ها؟ دا خوب دی که خیال؟

که

نه خوب دی نه خیال ځکه: زه په دې پوهېږم چه اوس ټکنده غرمه ده، سورلمر، سوزونکی خاورې، تیره اغزی هم شته لمر مې سر راسوځي، مځکه پښې-او تېره اغزې مې په پښو راچوخېږي.

اې داور تیکۍ!

اې سوزونکی لمره!!! تند شه اوښه مې کباب کړه.

ځکه: ما به دماشومو یتیمانو، تور اوخولن مخونه، وچی شونډې اوساړه اسو یلی لیدل، مگر زړه به مې ددوی پرحال نه خوږېده.

ای تودې ځمکی! اې سوزونکو خاورو او ډبرو!

اې تیرو اغزیو!! پښې مې را وسوزیء، په تلو او گوتو مې راچوخ شیء.

دلته

ځکه: ما به دلڅو پښو خاوندان لېدل چه له گرمۍ څخه به ئې شکایت کاوه او ستاسی له لاسه به ئې ژړل. مگر- ما-هو! ما به، یا باور نه کاوه او یا به مې په ډیره بی پروائی ورته کتل

آه - نه پوهېږم چه کورته ولاړه شمه او که دلته و اوسم؟

دلته! دلته خونشمه پاته کېدلای، ولی چه سور اهاړدی، لمر مې به سر کښی ماغزه ایشوی دچښلو او به نه پیدا کیږی، دومری سیوری لاهم نشته چه خپل غوائی اوغواوی ترلاندی پنډ کړم، او زه ورته کښېنم. د لوږی مې هم زړه سستی کوی، او پر ستر گو مې تو ره شپه شوله ځکه: برائی شپه ناڅاپه مېلمه راغی اوبنې مې راته وویل: «ډوډۍ لږه وه په مټی چه زمونږ او دمېلمه کړ په وشو، تاته نشوه پاته، سهار چه څپټی پاخه کړم یوه دانه به تاته هم در کړم».

و اوسم؟

له بده مرغه سهار بیالنگی غوالغتی وهلی، شېدی ئی نه کوڼی، اوڅوك ئې نژدی ځانته نه پرېښودل هغه ؤو چه میړه مې ښکنځل راته وکړه په لاره (داس) ئی وویشتم اووې ویل.

(پاتی په ۱٤ مخ کښی)

داشعر د «لی-چی» نومی شاعر له اشعارو څخه ترجمه شوي دی لی- چی په چین کښې دخپلو «هسینگ هسانگ» او «چرسانتمم» نومو اشعارو په ویلو د ډېر شهرت خاوند شو- دده دغه شعر دهغه کلکشن څخه ترجمه شوی دی چه د «سانگ یومن فلډز» ترعنوان لاندی د گوپی په دښت کښې ده ویلی او دچینی ژبی نه په انگریزی ترجمه شوی وو دانگریزی ژبی نه پښتو شوی دی «ژواك»

نوی میاشت

دپسرلی دهغه نری ځلانده لور (نوی میاشت) رڼاته دولوونو خپلی نازکی څانگی یوپربل کښې کړی وې.

* * *

هلته ځلانده شگی دلمر دپلوشو په شان برېښېدلې اوهر ویونکی ته ئې په پټه خوله «ښه راغلی!» ویل.

* * *

د همدغو پلو شو زما پر کالیو هم دا اثر اچولی و چه پرما دخپل ښایست په وجه غاړه کښه کړی اوپه مرموزه ژبه راته ووائی: «ماستایه»

* * *

دوی داد ول اشاری هم کولې: «تا سره اوس دتکلیف احساس ډېرلږدی. ته پوهېږی چه اوس ستا را تلونکی ژوند ډېر ځلاند ښکاری»

* * *

دپسرلی دهغه ځلاند لور (نوی میاشت) رڼاته دولو د ونو نازکی څانگی یوپربل کښې پرتی وې.

* * *

دوی ته دنازگی په حال کښې هغو اوو (۷) څلاندوستورو دپلوشو دامواجو په ژبه ویل: تاسی هم په خپلو نازکو گوتو مونږ ته دخوښۍ اشارې کوئ.

مونږ دډېر عمر راپه دی خوا تاسی ته دپلوشو ځولۍ دراستولی دی نوتاسی هم زمونږ دغه ښه نیت ته دتمجید اوثنا ژبه دښورولو په حال کښې جاری ساتیء !

* * *

مونږ دستاینی وړیو اوستاسی دپاره په هغه شینکی آسمان کښې چه خورالو په لمن لری بدنیتی مخلوق نه شمېرل کیږو .

* * *

هو! دهمدغه اسمان دغه لویه لمن ده چه ستاسی درېښو خوالګۍ ئې دماشوم په شان دشنو اوبو پرتیو درودلو په حال کښې ستاسی دعمری بیدارۍ دپاره بیده پری ایښی ده .

(د ۱۲ مخ پاتی)

«غوادی ښه نه ده مړه کړی، دادی اوس لغتی وهی ژرلور اخله اومامتې ته ځغله، په یوه توپ شپتلی راوړه که نه وی سترګی به دی در وباسم ».

کله چه ما واښه راوړه او غوائې می دباندی پېول نومی له بنی څخه ګوله دو ډۍ وغوښتله دې راته وویل «پرډوډۍ ځرنګه پالوانه ئی، پرکار دی نوملا ماته ده، څه نه به مرې، ډوډۍ نده پاته شوی ځان نشم درته ډوډۍ کولای ».

آه - څه وکړم چېرې ولاړه شمه. کورته ولاړه شم او که دلته واوسمه؟؟ که کورته ولاړه شمه خو بیا به لکه پرون غرمه بن او مېړه ماد سر تربرو (وېښتانو) ونیسی اوسرای به ټول را باندی غوبل کړی .

رشتیا، زما خوهیرؤ - پرون غرمه ئی دالاهم راته وویل چه ورو سته لدې د غرمی له مخی غوائې کورته مه راوله ولی چه ګرمی ده، دالنګه غوستړی کېږی. اې څښتنه اې لویه خدایه، څه وکړم !!

کورته ولاړه شمه او که دلته واؤسمه ؟؟؟

کورته خومی نه پرېږدی اودلته هم نشمه پاته کېدلای، نوباید د ګورم میدان ته ولاړه شمه اوهلته دیتیمانو او نورو ګوروانانو سره ترهغه بیدانه توت لاندی غرمه تېره کړم

هو! هلته ځم ګوندی د کوتری زوی خوار کی هم چه هغه روځ میرې وهلی اوپلار له کوره شړلی و، او اوس دملاصاحب یوه لنګه غوا اودرې پسونه پیائی ووینم او ورته و وایم چه دملاله کوره یو څه سره یاتوده ډوډۍ راته راوړی .

ځکه: ده خوهغه بله ورځ ویل : «زه اوس ډیرخوښ یم دملاصاحب ماینه می ډیرنازوی اوپه نس هم ښه موږ یم ولی چه د ملاصاحب دسترخوان هره روځ د سړو ډوډ یو له لاسه سره چوی » .

زما دنیا

ښاغلی جالوان

داټول دخدای (ج)

گارونه دی

فردوس خان کتاب تپ کړ- او چه ساعت ته ئې وکتل نو دشپې پوره درې بجې وې باهر ته ووت او د سپوږمۍ په پسته رڼا کښې چه پرې د پسرلی پوست باد و لګېد، نو په لوستو ګنګس شوی ماغزه ئې تازه شول د کلارې شومې په غلی او خاموش محیط او ماحول کښې فردوس بره په شنه آسمان کښې پړ کېدونکو ستورو او دځوانۍ په خمار کښې راغلی سپوږمۍ ته وکتل او د ځان سره ئې وویل:

«لو یه خدایه! ته څومره د عجیب او رنګین نظام خاوند ئې» دخدای دقدرتونو دثنا او صفت په فکر کښې فردوس خپلی کوټی ته بیرته روان شو- برق ئې مړ کړ او سر ئې په بالښت کېښود چه اوده شی یو ساعت بس خوب وینی چه دچوتی یو څو یاران ترېنه چاپېره ناست دی او امیر خان پکښې یوه خوند وره کیسه (قصه) را اخستی ده امیرخان وویل:

څه کم لس کاله به ئې کېږی زه دپېښور په قصه خوانۍ کښې ولاړوم او چه ګورم قریبا دڅلوېښتو کالو یوه ښځه یو وړو کی غوندې پنډو کی ئې په سر دد ری ماشومانو سره متر دده او پریشانه غوندې یو خواته روانه وه- څه چه لاړله نو د سړك په غاړه کښېنا ستله دتی ماشوم ئې په غېږ کښې اود وه نور ئې خپلی یوې او بلی خواته کښېنول او په سړك چه به څوك تېرېدل راتېرېدل- نو لاس به ئې وروړاندې کړ چه څه خیر خیرات ورله په لاس کښې واچوی خدای خبر چه زما په ماغزو کښې څه راغلی وو چه د سړك په بله غاړه د بجلۍ ستن سره ورته ودرېدم- چه خلك په دې بی آسرې ښځې ژړه سوځی او که نه او چه دا به تر څو د غلته خیر غوښتلو ته ناسته وی. امیرخان وویل خلك لکه مېږیان د ښځې مخې ته تېرېدل راتېرېدل او چرته په شلو د پوشو کسانو کښې به ورله یو تن نیم پیسه دوه ور کړې ددې تماشې په کتو کتو پوره درې ساعته تېر شول او په ولاړه ولاړه ورته دډېرې ستومانۍ نه دم ځماد پښو نه ووت خو بیا هم په دې خیال ولاړوم چه دا ښځه به هم په ناسته ستړې شی- او آخر چیر ته د سر دپټولو ځای خو به ئې وی او څه وخت چه دا هلته روانه شی نو زه به هم وربسې غلی غلی ورشم چه دا ستوګی ځای ئې معلوم کړم:

امیرخان وویل، دې غریبې ښځې ته به کله یو ماشوم په ژړا شو او کله بل او دټولو لوی هلك په ساعت به ساعت مور ته ویل ادې! ځه چه ځو کنه- زه خو ډېر وږی شوی م نو زمی کالمی درد کوی- ښځې به ماشوم دم دلاسا کړ چه لږ صبرو کړه دادی یو څو دقیقی بس به ځو:

دماښام تیاره په خوریدو کښې وه چه ښځه پاڅېدله - دتی ماشوم ئې په اوږه واچاوه - او نور دواړه ئې تر گوتو نیولی بوې خواته روانه شوه امیرخان وویل « ښځه سره دماشو مانو مخکښې وه زه ور پسې اوداچه به څومره خپل کور ته ور نزدې کېدله دومره به زه حیرانتیا او تعجب اخیستم چه دا خو جوړ زمونږ په گاونډ کښې څوك اوسیدونکی ښځه ده اخر ښځه یوه کور ته ور ننوته. اوددې کورمې معلوم کړ - نو بیا خپلی دېرې ته راغلم او ما سختن چه دیو څو یارانو اشنا یانو سره په حجره کښې گښېنا ستم نو ما ترېنه تپوس وکړ چه دا زمونږ په گاونډ کښې دحاجی فیروز شاه سره جوخت کور دچا دیء ؟

یوه وویل : چه دا هم دحاجی صاحب کور دی . اود یو څومیا شتوراهیسی په کښې څوك دباهر خلك په کرایه اوسی »

امیر خان وویل: څه ساعت پس چه دیارانو مجلس خورشونو ماډډه ولگوله او سوچ می راواخیست چه دا ښځه د کرائې په کور کښې اوسیدلای شی نو خیر خیرات بیاولې غواړی د رنگ او جسې نه خود کوم لوی کور لور خور ښکاری ولې خدای عالم دی چه چیر ته غریبه ولې ناسته ده » ؟

امیر خان وویل: ما په دغه شپه دوده کېډو ډېر کوشش وکړ - ولی یو تکی خوب دی هم راباند حرام وی - او سهار وختی چه دنمانځه نه راغلم نو عنایت الله کره ور غلم او دهغه مور ته مې وویل: چه ادې یو کار به ونکړې - دعنایت الله مور راته مسکی شوه چه ولی بچیهٔ شل ځلې خوبه ئې وکړم » ما ورته وویل: دفیروز شاه حاجی صاحب د کور سره جوخت په دویم کور کښې کومه ښځه په کرایه اوسی - پرون ئې سره ددرو ماشومانو په ډك بازار کښې خیرغو ښت ته لږ ورشه تپوس ترینه وکړه چه دا څوك ده ځکه چه ما ته خو څوك د لوی کور لور خور ښکاری - دعنایت الله مور زما په دې خبره لږ تندی تر یو کړ او وئی وویل: چه نه کار هلته څه کار غواړی به خیر ! ستائې څه؟ دنیا اوس ډېره تگه شو ېده خلك په نور و ډېرو نا کارو کارو نو نه شرمیږی نو که هغې غریبې خیرو غوښت نو کوم اسمان راتیټ شو چه ته ور پسې بیا چټی لکه مچ نښتی ئې او حال معلومول ئې غواړې چه ډېر په خپه کېږی - نو کور ته ئې راوله کور به دی په آبادشی » امیرخان وویل » ما چه دعنایت الله دمور دا خبرې واورېدې نو درا پاڅېدلو نیت مې وکړ چه ادې ما در ته یو وړو کی غوندې سوال وکړ او تار ترینه دخر دجال قصه جوړه کړه زما دې توبه وی - بیا به در ته دڅه خبرې سوال ونکړم - دعنایت الله مور چه پوه شوه چه زه اوس نهیجن روان یم نو په

خنداشوه چه بچیه ! تو کی مسخري مې درسره کولې ته ود ریږه چه دا چا ی و ځکو نو بیا به ورشو، امیر خان وویل ، زه او عنایت الله په گپ شپ کښې مشغول وو -

چه ادې بېرته راغله ستر گی ئی د اوښکو د کې وې اووئې ویل « داخود فلان کی ځا ی د پلا نکی خان لورده ، ما ته ئی قصه کوله چه زه خپل څښتن پدې بر درزؤ درو زاو د نـگ ودو نگ واد ه کړې وم. ولی دواده په دوهم کـل زمونږ پخپلو کښې د زره بداوی هر وخت د جنگ جگړو اووهلو نکو لوبو افسوس ناك دور شروع شو -

ما د خاوند سپکو سپورو او شرمند گیو ته صرف پدې خاطر ځان لـکه د غر مظبو ط او تینگ نیولی و- چه خاوند نوم دخدای دی - او څر نـگ چه دده خو ښه و ی - هغه ر نـگ سلوك دی راسره کوی ځکه چه زه پښتنه یم کـه می پر ېږدی د پښتنی غیرت له کباله بل مېړه خوشی کولا ه شم - ښځه په زړا شوه چه دواده په څلورم کـل مې خا و ند بله ښځه و کړه او ددومې ښځی کورته راتلل داسی و- لـکه چه زمونږ په کور بې وخته بوه قیامت خېژه تباهی راغلی وی - وای چه که یو تالاب د ېرېلن او اوزد وی ولی ددی او به بیاهم قلاري ولاري وی خو چه یو ورو کې غوندې گـټکی څوك ورو غورزوی - نود تالاب په ابو کښې یو انقلا ب راشی دغه ر نـگ په سلو دانو کښې که یو دا نه هم چینجنه وی نو با قی یو کم سل واړه دځا نه سره چینجنی کړی - بیگانه چه د خپلو منځ لره راشی نو خپل لـکه د شا خپلانو اولیونو سپو پخپلو کښې سره واچوی - او بخپله ئې د دې به سر ناست تماشه کوی یو بیگانه چه زمونږ کورته راغی نو زمونږ د کورامن وأمان قلاره قلاری او حتی د اچه عزت ئې هم تالاتر غی کړ- سخر خوانې ' اولیورونه چه مې د خاوند د بې وخته او بې ضرورته شیونو او فسادو نو له لاسه دد وو سپزمونه راغلل - نو سخر مې و لـکېد زما خاوندئې له کوره ویوست اوورته ئې وویل چه بیاز ما به مخ ونه لـگی تا بله ښځه څله و کړه؟ چه یه شرمونو دې وشرمېږلو یه بېښور کښې مې د خا و ند یو اشنا و مو نږ تو لو سر ه د خپلو ماشومانو د خپل کـلی نه ښارته کېده و کړه او دلته مودا کور په کرایه وا خیست ښځه بیا لـکه د ماشومانو پرېښـگ په زړا شوله اوو ویل اوس دا شپږ مه میا شت ده چه زما د څښتن او دهغه د نوی ښځې چرته د رك نه لـگی د کور کرایه را باندې لا هغه ر نـگ ا ما نته پاتې ده ما د کرر لو ښی او خپلی کپړې تولې ورو ' په ورو خرڅې کړې - چه د ماشومانو لاری په لندې پسا تم او بیا چه نوره مې هیڅ اسره او سله پاته نه شوه- نو په خیرات غو ښتلو مجبوره شوم ځکه چه په دې نا بلد ځای کښې ما څوك پېژنی نه- چه زه څوك یم او دچا ښځه یا لور خوریم- زه او زما ماشومان اخر ژوندی بنی آدمان یو- مار ان خونه بوچه په خاورو به و یا یو»

امیر خان وویل، ماچه ددغی بې اسرې ښځې دا دردناکه قصه واورېده نو دخپل کور تباهی او د میرنۍ مور ظلمونه او نا کړدې راته رامخکښې شوې - چه زما د پلار دد وهمې ښځې نه پس زمونږ خپل کور څرنګ په لږه موده کښې دننه تباه شو - او دمیرنۍ مور د بېرحمیو او بې انصافیو نا ترسه څپېړوزه هم له خپله کوره راورك کړم اودا یو لسم ګال دی - چه پخپل وطن او خپله خاوره کښې پر د ېسې یم - بیګانه دې خدای د هیچا کور - خاورې، وطن، او ملك ته نه راولې خدای خبر دی چه دپرد و بیګانو له لاسه څومره بیګناه ښځې او ماشومان په پرد ولارو او کوڅو کښې لغړی او دنورو دخیر او زکات په ټوکړو ژوند کوی -»

امیرخان وویل هغه بله ورځ دغه ښځه د عنایت الله مور خپل کور ته را وستاې وه مونږ با هر په ډېره کښې ناست وو، غریبې په سرو ستر ګو ژړل چه خدایه! مونږ څه ګناه کړې وه، چه په مونږ دې بې وخته قیامت راوست او دپرد و خیراتو نو ته دې کښېنو لو ماچه ددې جېغې او دردناکه ژړا اورېدله نو داسې مې محسوس کوله چه جوړ ځمکه او آسمان دواړه ددې مسکینې دفریاد له کبله لړزان دی - وای چه دا آسمان په اصلیت کښې آسمان نه دی بلکه دبې اسرو بې وزلو - مظلومو او غریبو خلکو د سړو اسوېلو جمع شوی لوګی دی - د دې حقیقت نه هم څوك انکار کولی نه شی چه دمظلومانو او بې وزلو د ساړو اسوېلو آزار وهلې چری هم دښادۍ دورځ خاوندان شوی نه دی ولې ددې هر څه با وجود چاپیره دمظلومانو او بې وزلو دفریادونو او سوونارو په اورېدلو مونږ دایمان په ځای ګوته اېږدو او دخپل ځان ملامتولو په ځای وایو چه دا ټول دخدای کار ونه دی چه څوك په اوچتو او لوړو ماڼیو محلونو او بنګلو کښې دبخملو په نرمو او پستو بسترو کښې په غزېدلو پښو خوبونه کوی او څوك دشنه اسمان ترسیوری لاندی په خاورو خزلو کښې دنورو اسری ته ناست خیراتونه غواړی.

کامیاب انسان

هغه دی چه دخوشبینۍ او بدبینۍ تر سرحد دحق ویلو او حق ښکاره کولو په وخت کښې په ډېره مېړانه تیر شی او واقعیت ته ځان ورسوی (ژ)



راغلی لیك

د ملنگ جان دمرگ غم دپل خمری دتلگراف په مامور (په ما) یو په سله که :

هو کې :- د ملنگ جان دمرگ غم دپل خمری دتلگراف په مامور (په ما) یو په سله کړ دملنگ جان مرگ داسی غمجن کړی وم چه هیڅ داسی شی نه وچه ماته ئې تسلی را کړی وای - تنها دخپلی تسلی دپاره می په سباء دمرگ په عنوان د کابل راډیو دپاره ډیر اوږد تلگراف په پښتو ولیکه آو په ډیره بیړه می دمرکزی بغلان تلگراف خانې ته و وور څنگه می چه تلگرام یو مؤظف ځلمی ته پلاس ور که په لوست ئې پیل و که نو ده هم دا فسوس اوسیلی له خولې نه وښکه اووه ئې ویل چه تلگرام خوستا پښتو دی څنگه به شی زه خو به ئې واخلم مگر دپل خمری تلگرافی به ئې واخلی که نه - په هر صورت یو سلو څو حرفه تلگراف اوپنځه څلوېښت افغانی می ور کړی تلگراف تسلیم شه :-

په همد غه شبه داسې اعلان وشو چه سبا ما ښام دملنگ جان دمرگ په مناسبت په کابل راډیو کښې مخصوص وخت تاکل شوی دی . نو زه ډیر خوشاله شوم چه ځما تلگرام به هم پدغه لړ کښې زما د تسلی دپاره ولوستل شی ډیره می تلوسه وه کله چه بل ماښام راغی :- او ځان می راډیو ته راورساوه نو دغه مخصوص وخت زښته ډیر نور هم وژړ ولم اما دبلی خوانه می دخپل تلگراف انتظار در لو د خو تر آخره پوری دتلگرام پته ښکاره نه شوه :- مگر بیا هم د سلیمی صاحب وېناڅه نا څه تسل را کاوه چه د ټولو هغو کسانو نه ئې معذرت وغوښته چه پدغه خصوص ئې تلگرافی مخابری کړی وی .

په‌سباوه او که په‌بله ورځ وه چه‌ما پسې یو کس تلګرافی کرځېده نو ما ته ئې وویل چه‌ته یو ځل د تلګرام کوټی ته راشه. چه‌ستا په‌تلګرام کښی کېف بپیدا شوېدی. خدای شاهد دی چه‌په دغه ساعت کښی یو ډېر غټ ضروری کار پسی روان وم کله می چه دا خبره واورېده هغه کار راته پدی نسبت ډېر کم او وو ړښکاره شو هغه می پرېښود. او په هله هله تلګرام خانی ته ورغلم. مدېر صاحب د تلګرام راته وویل چه ستا تلګرام پښتو دی او مونږه د پښتو حروف په تلګراف کښی. نه لرو او د پلخمری ګوشکی راډیو تلګرام هم په پښتو تلګراف ناخلی ته دې که دا تلګرام په پاړسو کړې ښه به وی ما دا خبره و نه منله او ډېر افسوس می و که او دا می ورته ؤویل چه ډېره د تعجب وړ خبره ده چه په جرمنی کښی دا دلر د ماشین جوړ ولو فابریکی خپل د ټایپ ماشینونه په پښتو کړل چه پښتانه د دغې فابریکی کار ته په درنه سترګه ګوری او دغه راز په اتحاد جماهیر شوروی کښی په زرګونو کتابونه چاپ شول متاسفانه ځمونږ په هېواد کښی د مخابراتو وزارت په دغه شاوخوا کښی کوم لږ قدرې قدم هم نه دی اخستی :- حروف لاڅه چه مامورین ئی قطعاً په پښتو نه پوهیږی او دا می وویل ترې راؤوتم غواړم چه دا موضوع د افسوس په صورت نشر کړای شی که چېرته نشر شی شاید د کورسونو مدیریت هم ورته ملتفت شی ځکه چه د مخابراتو اداری یا تلګرافی مامورین د دوی نه بری لیک اخلی (تاجر مومند قندوز ګودر غاړه).

ځواب

ښاغلی تاجر مومند!

ستاسی دا خط تیلفوناً د مخابراتو وزیر صاحب ته وویل شو دوی وویل چه دا کار دفن له حیثه مشکلات لری اوژرنه شی کېدلای ځکه د پښتو حروف په لاتین سره نه دی تاکلی شوی- مونږ په دې لار کښی خپل ځان نه سپمو ته د دې وعدې اساس ته هیلمن اوسه. او نور پښتانه دی هم.

اداره



ښاغلی واسعی :

دپښتوژبی یوزوړ گرامر

بدې ورځو کښې پښتو ټولنی ته یوخطی گرامرا راوړه شوچه تر او سه پوری چه هرڅه گرامری تألیفات (مطبوع اوغیر مطبوع) لیدل شوی دی ترټولو زوړاولرغونی دی.

دا گرامر په (۱۲۸۰ هـ ق) یعنی (۹۷) کاله وړاندی په قندهار کښی د یوه فاضل له خوا په فارسی قلم دپښتو دصرف اونحو په قواعدو کښې ترتیب او تألیف شوی دی.

د کتاب دمؤلف معرفی: د کتاب مؤلف دځان نوم نورمحمدافغان یاد کړیدی او ځان په قندهار کښی مسافر اوجلا وطنه بولی، داسې ښکاری لکه سړی چه دقندهارنه وی او مسقط الرأس ئی کوم بل ځای وی خواوس په قندهار کښې اوسی او د کتاب تألیف ئې هلته شروع کړی اوهلته ئې پای ته رسولی دی مؤلف داهم وائې چه کتاب ده دنوراحمد نامی خپل یوه کشراو گران دوست په غوښتنه اواشاره تألیف کړی او وروسته د څلور کلونو ترزاری او زوا اوټینگارؤ اصرار ده دې خواهش ته لاس ورته کړی او د خپل گران ملگری نازئې وړی دی.

د کتاب دبیان اوانشاء طرز: که څه هم (۹۷) کاله وړاندی فارسی قلم او دتحریر طرز چه هرڅوك اوس وریه یادلری اوپه خوا اوخاطر کښې ئې ورو گرزوی هغه بیاهم د یوه غیراهل زبان چه په عین حال کښې بیا پښتون هم وی هرومرو به ئی دا خیال بلکه یقین شی چه ددې کتاب دبیان اوانشاء طرز او دافادې قوه به خورا ضعیفه او دتغبیر دجنبې څخه به داهمیت وړنه وی قلم به ئې ډېر سست وی. مگر زه ددې مقالې هریوه محترم لوستونکی ته اطمینان اوډاډ ور کوم چه مسئله داسی نده ددې تألیف فارسی که څه هم (۹۷) کاله وړاندی دیوه عربی اوقدیمه علومو دعالم او پښتانه په قلم لیکل شویده بیا هم تر بوی

اندازې دقدروړاوتقریباً په داسی طرز لیکل شویده چه داوسنی عصراومودوږمه پکښی موجوده ده جملی او کلمات ، اوفقرې اوعبارات ئې غښتلی او دا فادې څخه ډک دی ، مطالعه ئې سړی نه خواپوټه کوی اوخوند ور کوی .

مؤلف په ترځ کښې دې مطلت ته هم اشاره کوی چه پدې لار کښې تراوسه پښتنو کوم قدم ندی اخیستی اود کوم پښتانه فاضل له خوا د پښتو صرف ونحو او گرامرندی جوړ شوی چه ده هغه خپل لار ښوونی بللی اوپه کارئې شروع کړې وای . نوله همدغه جهته دی ځان پدې لار کښې لمړی سړی اومفرد بولی اود ا مقصد په پښتو نظم کښې داسی راوړی:

چه په غرونو لار شی صافه — قافلې درومې تر قافه
چه وی پل بر درياب باندی — خلق آسان برعبور کاندی
نوې لار جوړول وروره — ځیگر خون غواړی هر گوره

داسی معلومیږی چه مؤلف د کتاب په تألیف کښې شاو خوا لاس و پښه خو ځولی اودمراجعې اوتتبع ورونه ئې ټکولی دی خوغیر دمستر راورتې له گرامره څخه ئې دبل چا کوم اثر او تألیف پدې موضوع کښې نه دی موندلی.

د کتاب نوم اودتألیف نیټه:

مؤلف خپل کتاب د(تحفة الامیر) پنامه نومېیلی اوځکه چه دی داعلیحضرت امیرشیرعلی دسلطنت معاصردی، دهغه اعلیحضرت یادونه ئی پکښی کړیده اود هغه حضور ته ئی وړاندی کړې، اودتألیف نیټه ئې هم په یوه فارسی څلوریځه کښې درج کړی، وائی :

چون گرفت اختتام این نسخه
از اعانات فضل رحمانی

گفت پیر خرد بتاریخش
«هی بیان زبان افغانی»

(۱۲۸۰ هـ ق)

دمؤلف علمی شخصیت: داسی معلومیږی چه فاضل مؤلف پخپل وقت کښی د برجسته اوحاوی علماؤ څخه دی اوددرس اوتدریس دڅښتانو په شمیر کښی گڼل کیږی باالخاصه په صرف اونحو اوعربیت اوادبی علومو کښې ئې وسعت اولاس درلود اودښې ملکی خاوند ؤ. مؤلف علاوه پرفارسی قلم چه کتاب ئې په فارسی تألیف کړیدی اوافاده ئې مناسبه ده دفارسی ادب او شعر څخه هم بې برخی ندی اوتریوې اندازی اقتدارپرلری لکه دپورته څلوریځی څخه چه دتألیف په نیټه کښی ئی ویلې ده پوره څرگندیږی.

دمؤلف دتتبعاتو گرامری پلټنو څخه چه په کتاب کښې دمطالعه گونګی، ترنظر تیریږی داخبره اثبات نه رسوی چه سړی په عربی صرف او نحو او گرامر کښې پوره اقتدار لری دتطبیق اوپرتلې اومواز ینې قوت ئې قوی دی ، پښتوئی دعربی گرامر په قالب کښې ښه توی کړیده اوپه تطبیقاتو کښې موفق دی اصول او قوانین اوپرهغو باندی متفرقات اوجزویات ئې په دقیق ډول تراحصاء لاندی نیولی هرڅه چه ئی په عربی صرف او نحو کښې لیدلی اوتر اوسته اومطالعه تیرشویدی دلته ئی تطبیق اوپه پوره مناسبت ئی مثال اوممثل سره مخامخ کړیدی .

مؤلف په تطبیقی فارمول کښې دستاینې ورتتبع اوپلټنه اودقدر لایقه څېړنه کړیده دعربی صرف اونحوتولو تبویب ئی په پښتو گرامر تطبیق کړی اوهغه عناوین او اصطلاحات ئی ژوندی کړی دی داسی عنوان او اصطلاح په عربی کښې نده څنی یاته شوی چه هغه دې ده د پښتو گرامر ته نه ورې انتقل کړی او دانیکلی اوپیمخی ناوی ئی دپښتو کرر او کاله دبشپړ جهیز اوتوله تاك اونوك سره داسی گانلی، یسوللی، سینکارلی ترلاس نیولی راوستلی ده چه دپښتو دهرمیراولپوال لپره یه پخیږی .

دمولف ذوق اوناز کخیالی :

مؤلف پخپل بحث اوبیان کښې د ذوق څښتن دی په هرمورد کښې دنکته رسی اوناز کخیالی څخه کار اخلي دداسی نزاکتونو اوادبی نقدونو سره چه تراوسه لږ خلق ورته ملتفت دی تر اوس (۱۰۰) کاله وړاندی تماس مومی چه یو دهغو موارد و چه مولف ورته ملتفت شوی دی دپښتنو دلهجوی اختلاف به بحث کښې وائی چه پښتانه ځینی پښتو باغیر پښتو حرفونه پوپه بل الیشوی لکه (ز) چه ځینی ئی پخپل پښتو تلفظ ادا کړی مګر ځینی نور ئې په (ګ) وائی دلته دافاضل (۱۰۰) کاله تراوسه له مخه دغې غلطی ته ملتفت کیږی چه ځینی کسان په لیکلو کښې هم هره (ز) په گاف کاږی یالکه (ښ) چه به (خ) وائی لیکی ئی هم په (خ) به داسی حال کښې چه دا کار دژبی داساسونو څخه مخالفت بلل کیږی اودژبی ممیزات اوخصوصیات سلبوی زه دهغو ښاغلو لیکوالو څخه چه دخپلی خاصی لهجې دپاره دپښتو پخوانی اوعام رسم خط ته تغیر ورکوی خواهش کوم چه لطفا دې خپلی دغی نوعی لیکنی ته ملتفت واوسی اود هدغه کاره څخه دی دپښتو ژبی دپاره دپوه ستر خدمت په نامه ځان وژغوری؛ دی ذواتو اودرنو ښاغلو ته زه په نوروژبو کښې عینه همدغسی مثالونه ورښیم اوپه واضح ډول داور ښکاره کوم چه په زیاتروژبو کښې داوصعیتونه (یعنی دا دا او تحریر مغایرت یادبعضو کلماتو

کوم حرف په ادا او صوت کښې په بل حرف بدلول) موجود او جاری ، بلکه عمومی محاوره ئی پر همدغه تبدیل روانه وی حومګر لیکلو او تحریر ته چه راشی او لغت پخپله اصلی بڼه او اساسی رسم الخط لیکی صوت ته اهمیت نه ورکوی او (مبدل) په (مبدل منه) لیکل کیږی . دا وضعیت یوازی په یوه ژبه کښې یا یوازی په شرقی ژبو یا په بل عبارت یوازی په سامی ژبو کښې لاهم نه بلکه په لاتینی او غربی ژبو کښې هم موجود او خپور دی ،

دغه دی اوس به مونږ د شرقی ژبو په ډله کښې وګورو چه دا وضعیت په کومه کومه ژبه کښې موندلای شو لیری به نه څو پدغه نږدی خپل کور کښې به فارسی ته وګورو چه تبدیل ناموس او رواج یکښې شته که یه ؟ او که وی ډیر دی که لږ که ډیر وی که لږ د تحریر او رسم الخط پر وقت تبدیل شوی حرف لیکل کیږی او که اصلی حرف راګرزی زما په خیال ددې ټولو پوښتنو جواب به دښاغلو لوستونکو له خوازه مثبت واروم او منفی جواب به څوک رانکړی یا خو به ئې رانکړای شی . اوس به له خپله کوره څخه ووزو لږ څه به لیری ولاړ سو تر کور د باندی به شاؤ خوا په نورو شرقی ژبو کښې وګرزو پوښتنه ګرویږ نه به پسی وکړو چه هلته څه حال دی په کومه ژبه کښې دغه کیفیت موندلای شو که یه ؟ تر فارسی چه یو قدم هاخوا ته وروا خلو ، (لاس په لستونی) لنډه ګنډه عربی په مخه راځی دا بدال او تبدیل بازار ئې په محاوراتو او لهجو کښې خورا تو دا ودومره په شدت روان دی چه د عربی ممالکو څخه هر یو مملکت جلا لهخه او په ځانته بیله محاوره ګډ وی هر محیط خپلی خاصی لجهې او مخصوص اصوات لری د تحریر او د تکلم تر میانځ مغایریت موجود دی (ق ، ث ، ج ، الف) په (ګ ، ت ، ګ) بدلوی قیام ثلاث جنیه (پونډ) ګیام ، تلات ګنی وائی بلکه په (ماء) کښې الف په (و) اړوی (موی) ئې بولی خو دیښتنو خبره : «مار کوز ځی خو چه د غار خولې ته راشی نو سم شی» چه د تحریر او لیک قلم راواخلی نو مختلفی لهجې ټوله خزندی او حشرات غوندی په غارو ننوزی هغه عرب زلمی یا زوړ یا ادیب یا دهری طبقې څخه چه وی او دا ټوله کلمات ئې محرف کړی وی ټوله پخپله اصلی رسم الخط قیام ثلاث ، جنیه ، ماء ولیکی دائی په خوا او خاطر کښې نه ورګرزی بلکه اراده ئی نشی کولای چه د قیام برځای دی ګیام یا دی هغه په دی ولیکی بلکه د تحریر او لیک په وخت کښې سیاسی او مملکتی حدود له میانځه ووزی ویشو نه او ویش بازی ورکی شی سوریا ، اردن فلسطین ، مصر ، عراق ، سعودی عرب یمن بحرین ټوله یو عربی عالم شی او د قلم ژبه ئی اتحاد و مومی مګر محاورات او لهجی ئی څومره سره لیری او مختلفی دی ؟ دا ځکه چه ژبه خپله مخصوصه بڼه او شکل لری او هغه باید وساتل شی

له زواله راو گرزی اورا گرزول ئې به دې کیږی چه خپل اصلی حروف ئی درسم الخط او تحریر به ذریعه محافظه شی

ممکنه ده چه ښاغلی لوستونکی دی انتقاد وکړی چه داخو د عربي د بازاری او سوقی لهجی او فصاحت سوال دی او د پښتو د لهجی اختلاف د پاره نشی مثال کېدای ددې په جواب کښی باید وویل شی چه لکه مونږ چه لږ گړی د مخه وویل په هره ژبه کښی یو شمېر لهجې موجودی وی قبیلوی او ښاری اصوات سره جلا او ځانته وی مگر دا یوه منلې خبره ده چه د لهجو او اصواتو اختلاف د ژبی پر اصلی جوړاب او اساسی شکل او بڼه هیڅ اغیزه نشی کولای او داسی نشی کېدلای چه یوه ژبه یو واحد اساس نه ولری د هری لهجې څښتنان دی په هغه لهجې لیکی هم دا ځکه چه که ژبه په همدغه ډول روانه پسی پاته شی په آخر کښی به خپله زړه هستی او محفوظ او معنعن ماهیت بایلی راتلونکو نسلونو ته به اساسونه او د ژبی بنسټونه پاته نشی (چه هغه د ژبی زور رسم الخط او د هری کلمی د حروفو تغیر نه قبلونکی شکل دی) او که په دی اشکالو کښی د محاوری یا په کوم بل دغسی عامل مونږ تغییر جایز وبولو او اشکالو ته په اساسیت قایل نشو «ز» په «گ» په پښتو کښی یا «ق» په «گ» مثلا په عربی کښی ولیکل شی دا به د ژبی اساسونو ته صدمه وی چه په آخر کښی به ئی نتیجه د ژبی محویت او د ژوند له ډگره څخه واته او لاس پرېوله وی زمونږ دوینا طبیعی نتیجه داشوه چه محاوره او لهجه ازاده مگر رسم الخط او لیک محفوظ او مقید دی. هلته اختیار او دلته جبر موجود دی.

علاوه پر شرقی ژبو په لاتینی ژبو کی هم موږ ته داسی ډېر اسناد په لاس راځي چه هغه یوازی د دی د پاره دلیل نه دی چه لهجوی اصوات به حتماً خپلو اصلی حروفو ته دلیک په موقع کښی رد مومی بلکه ناملفوظ او غیر مصوت (صامت) حروف به لا هم هرو مرو لیکل کیږی او لیک ئی حتمی بولی چه مثالونه ئی یادونه نه غواړی او ضرورت نلری زموږ د اصلی دعوی مثال په انگلیسی کا چه لهجوی صوت د لیکلو پر وقت اصلی حرف ته رد یږی امریکائی تلفظ دی چه د امریکا په لهجه کښی عموماً د (R) حرف دومره پنډاو غلیظ ادا کوی چه تقریباً د پښتو (ړ) ځنی جوړه کړی مگر د لیک پر وقت بیا هم تحریف او لهجوی صوت پر خپله لار ولاړ شی هیڅ اعتبار او اهمیت نه ورکول کیږی او پخپلو اساسی او اصلی حروفو لیکل کیږی.

که څه هم پدی موقع کښی د اویل کیدای او دا تنقید وار دیدلای شی چه په انگلیسی هجا کښی (ړ) نشته او که وای خو دوی به هم تلفظ او تحریر یو شانته پدغه مورد کښی متحد کړی وای خوزه

به ددغه اعتراض پجواب کښې بیاهم په دغه ژبه کښې دصامتوهر وفولیکل ورپه زړه کړم چه د انګلیسي ژبې یو بارز خصوصیت اومخصوص امتیازدی

زموږ دمقصد د توضیح بلکه اثبات او تقویۍ د پاره تر نورو لاتینی ژبو فرانسوی ډېره مرسته کوی او ملامورا تړی پدی ډول چه په فرانسوی کښې خود(R) تلفظ په(غ)سره کړی مګر دلیکلو بروفت لیکل کیږی هغه(R)د اځکه چه د کلماتو په املا او رسم الخط کښې اساس او بنسټ متزلزل نشی او تلون پکښې ناروا دی .

تردی ځایه مونږ خپله هیله او آرزو دمؤلف دیوی اشاری په ترڅ کښې ښکاره کړه او داوسنیو ښاغلو لیکوالو څخه هیله کوو چه زموږ وینا به که په سل کی سل معقوله او منطقی ونه بولی لږ تر لږه دا خو به راسره منی چه هره ژبه خپله یوه خاصه بڼه او ځانته قیافه لری او پخپل یوه معین چوکاټ کښې ژوند کوی داچوکاټ په هره ژبه کښې دهغی ژبی مخصوص اوخپله مشهوره انشاء اواملاءده نو آیا دیوې ژبی په زړه او معنعنه املا کښې پخپل سر تصرف اودځانه لاس وهل دهغی ژبی ملاورماتول نه دی او دهغی ژبی د وژلو او محو کولو معنی نلری؟ دغه دی دبل چا په خبره کښې موخپل مقصد ښکاره کړ چه (د پښتو په رسم الخط کښې فردی او شخصي تصرفات ناروادی او پدی مشترکو او عمومی حقوقو کښې چه دټولو پښتنو موروثه ده لاس وهل او پورته ؤ کښته کول ئی په انفرادی ډول دهیڅ فرد صلاحیت نه بلل کیږی)

(وه چه خوش باشد که سر دلبران)
(گفته آید در حدیث دیگران)

دښاغلو پښتنو لیکوالو څخه هیلهٔ کیږی چه زما پورته معروضاتو ته به دانصاف په کتنه وګوری اوفقط که یوه نقطه سره ومنی هغه دا چه پښتو خپل زوړ محفوظ رسم الخط او مخصوص حروف لری او دا چه پښتو هم لکه نوری ژوندی ژبې د یوه ملت او اولس ژبه او د یوې جامعی تر میانځ سره شریکه ده بیا به داسی نکوی چه یوازې به دځانه سره ناست او په مشترکه ژبه کښې به داسی تصرفات جائز بولی چه دهغه مثال او نخښه به نه ددې ژبی په زاړه مستند ادب او تاریخ کښې موجود وی او نه به عصری او اوسنی باذوقه اومحقق افراد اتفاق ورسره لری .

﴿ د مؤلف مراجعه او ملاحظه : ﴾

مؤلف پخپل تألیف کښې پریوه خورا محققانه لار روان دی او دمراجعی اوملاحظی څخه کار اخلی یعنی دی یوازی پخپلو شخصی معلوماتو او علمي استحضاراتو د کتاب

په تألیف کښې کفایت او قناعت نکوی بلکه د مراجعې او ملاحظې څخه کار اخلی دفن او گرامر آثار او دنو رو تألیفات ئې تر ملاحظه او مطالعه تیر شوی تألیف ئې کوی دده له اشاراتو څخه ښکاره کیږی چه د میجر راورټی گرامر ئې په دقیقه ملاحظه کتلی او وروسته مراجعه او ملاحظه خپل نقد او تبصره بیا نوی لکه په همدغه سلسله کښې چه په کتاب کښې د تنبیه تر عنوان لاندې د ضمیر غائب منفصل او د اسم اشاره بعید په بحث او بیلولو کښې وائی: چه راورټی (هغه) ضمیر واحد غائب بولی چه په عربی کښې ئې (هو) مقابل دی مگر راورټی اشتباه کړیده او دا اسم اشارهٔ بیعد دی، دی وائی که څه هم راورټی پدې باب کښې ډیر د پښتو مثالونه راوړی دی چه د هغو څخه په اولی نظر دده د خبری ملگری او تأئید کوی مگر حقیقت او اساس دا ثابته او څرگندوی چه دا کلمه قطعاً د اشاری اسماؤ څخه ده او کم مثالونه چه پخپله راورټی د پښتنو د ویناؤ څخه را نقل کړیدی له هغو څخه هم د دې اشاریت ښکاره څرگند دی خو ځکه چه پخپله راورټی پښتون نه دی او پښتو ئې مورنۍ ژبه نه ده نو ذوقاً او طبعاً ده ته د اشاریت او ضمیر والی فرق داسی واضح لکه یوه پښتانه ته چه معلومیږی انکشاف نشی موندلای. مؤلف وروسته د راورټی د وینا تر راوړلو د محبت خان بړیڅی پر اثر د نقد په ترڅ کښې وائی چه نو موری خان او راورټی دواړه بر یوه لار تللی دی او هغه هم دا کلمه د غایب واحد ضمیر بللی ده. په همدغه ډول مؤلف وروسته تر یوه علمی او خوندوری ځیړنی د دی بحث کمبله ټوله کړیده او دائې څرگنده او جوته واضحه کړیده چه راورټی او محبت خان بړیڅ اشتباه کړی او پدې مسئله کښې سهوه شویدی.

د عربی گرامر او قوانینو تتبع:

مؤلف د عربې گرامر او صرف و نحو تر تأثیر ډیر لاندی دی او دومره پکښې غوټه شوی او محوه کیږی چه په پښتو کښې هم د عربې اشتقاقونو او صرفی اعلالونو تعمیرات په هره موقع کښې ځنی کیږی ابدال ادغام، دوه حرفه له یوه جنسه، مفتوح الف، مضموم (و) مکسوره (ی) او لدې نوعی نور د علم اشتقاق او عربې صرف اصطلاحات ډیر راوړی چه دده د کتاب مطالعه کونکی به دا خیال کوی چه زه د عربې گرامر مطالعه کوم او د پښتو او پښتو گرامر له دائرې څخه ځان خاج په نظر ورشی مثلا په یو ځای کښې د (تنبیه) تر عنوان لاندی خورا عجیبه افاده کوی او موضوع دومره عربې رنگ پیدا کوی چه ته به وائی عربې صرف و نحو مطالعه کوم.

د مؤلف د حسن انتخاب قوه: مؤلف د حسن انتخاب فوق العاده قوه لری د هری مسئلې دپاره چه مثال راوړی زیاتره شعر وی مگر په عین حال کښې د مؤلف حسن انتخاب او نفیس ذوق پکښې ښکاره وی، مثال او ممثل سره مطابق او خوله په خوله وی او سر بېره پر هغه دا د بی

لطف او معنوی ذوق مراعات هم یکښې شوی وی هرمثال خو را خوند ور او زښت خوږ راوړی مثلا په هغه موقع کښې چه د مصدر څخه د (حاصل بالمصدر) کار اخیستل شوی یو څه شعری مثالونه را وړی چه هر یوئې خوراخوند وراوله کیفه څخه ډک دی:

لکه گل څوخپه کیږی بوی ئې لایسی زبانیږی
هسی رنگ لا غلبه شی په زغمل د مینی دوک

اولکه دا: اول زړه ز هیرول مینه په یار څه
بیاله مینی جاروتل په لږه چار څه!

یالکه دا: که مشکل دی خو دزړو نورغیدل دی
سهل کار دی سودؤ زیان ددې دنیا

په بل ځای کښې د مصدری لام د حذفولو په جواز کښې یوه خوږه مصرع (نیمکه) او وریسی یو بر کیفه شعر راوړی اولیکی: (آهو چشموری زړه یرخدای سپارلی).

آهو چشموری زړه که هر څو بولم
نه منی لکه آهو ملل ځما

بل ځای د تذکیر و تأنیث په بحث کښې د کوم او کومه په مثال کښې دا بیت راوړی:

کوم واده کومه کوزده د په دنیا کښې
چه فلک ئې وآخر وته ویر نه کا

په همدغه ډول د مؤلف میثالونه ټول خوازه او خوند ور ابیات دی چه د ده د نفیس ذوق او نازك خیال او ادبي قریحې او ښکلی او مستظرف فکر نمایندگی او ترجمانی کوی د مثالونو ادبي قیافه او بدیعیت د یوه مؤلف د پاره ډیر مهم کار دی دی به تل دا کوښښ کوی چه داسی مثال او تمثیل وارد کړی چه سر بیره د تمثیل بروظیفه ادبي چهره او معنوی خوند هم ولری یوازی ئې باید د مثال او ممثل تطبیق غرض نه وی بلکه د ذوق او نفاست جنبه او د ادب او صنعت طرف هم پکښې ملاحظه شی.

مؤلف ځکه چه بخپله هم یو ناز کخیال شاعر او د عبد الحمید ماشوخیل مهمند او کاظم خان شیدا د سبك سړی دی پخپلو اشعارو هم ځای ځای تمثیل کوی مثلا د پښتو په قسمیه کلماتو کښې د (په) په تمثیل کښې خپل دا فرد را وړی:

(نوری) خوار په هجران وسو
یو په خدای او بل په تا زو

بل ځای چه (په) داستعلاء په معنی په پښتو کښې راځي په مثال کښې خپل کلام راوړی اولاندینی دوه فردونه ئې لیکلی دی:

چه صرفه د چا په سراو په مال نه کا
حیرا نیږ مه د ښکلیو و آئن ته
(نوری) ستا د در په خاور وهسی خوښ دی
چه هوس نکړی هر گز خلد برین ته

د مؤلف شعر او شاعری: مؤلف یوازی دقدیمه علومو عالم ندی بلکه علاوه په هغه په پښتو شعر او ادب کښی هم پیاوړی او مهارت لری ده د کتاب په ابتداء کښی یو مناجات په پښتو ویلی او په ترڅ کښی ئی د پادشاه د دعا حق هم پر ځای کړیدی چه دغه دی مونږ ئې لاندی عیناً رانقلوو:

مناجات

په حرمت د پاك احمد وه — هم صلوة باندی سرمد وه
هم په آل هم په اصحاب ئی — په پیرو د پاك جناب ئی
څو گردان وی د اسپهر — درخشان وی ماه ؤ مهر
څو چمن د بهاران وی — انجمن او ښه یاران وی
څو خرام وی د تدرو — په قیام وی باغ د سرو
څو باده جام او ساقی وی — څو نشه خمار باقی وی
څو فقره د دې سپنج وی — څو نکته او نکته سنج وی
څو خاکی او آتشی وی — تواضع او سرکشی وی
څو دا کاخ دل افروز وی — یکښی دا جشن و نوروز وی
دا «امیر» دی قهرمان وی — هم دجوړ دا خاندان وی
گلستان ئی خرم او سه — بلبلان ئی بې غم او سه
پری گذرد خزان مه شه — هیڅ بلبل ئی نالان مه شه
تل منصور دی زمونږ شاوی — د ښمنان دی رو سیاه وی

مؤلف د شعر په سبك او طرز کښی د عبدالحمید مهمند او د نورو هغو شعراؤ تتبع کوی چه د عبدالحمید پر سبك روان او دده د شعری د بستان شاگردان وی لکه خټك شیدا او دده په دود د پښتو نور شعرا . دی ډېر حساس او یو ناز خیاله شاعر دی، او د خپل وقت او عصر د اجتماعی حالت څخه ډېر الهام اخلی او لکه عمومی قانون چه دی په جامعوی

شئونا نو او اوضاعو زښت متأثر دي دفلسفې تصوف، لاهوت طبیعت په چاروئی کلام او شعر لږ گوتی وهی او یا خو کورټ مداخله نه ورسره کوی زمونږ دا فاضل شاعر دمتوسطینو شعراؤ پرلار روان دی شعرئې غزل او نسیب دی دجام او ساقی د گل او بلبل دمعشوق او خدائی ښکلا او جمال سره ډېره مینه لری او دهمدغو لېوال ارمداح دی چه اوس به دده دغزلو څخه ښاغلو لوستونکو ته ښکاره څرگنده شی.

غزل

ستا له کوی زما نشی جار و تل — په دا ځای کښی دی زما د روح و تل
زړه می نه ځی ستا له سرو شوندو می گونو — پر گل تل وی د بلبلو الو تل
چه ئی څاه دزنخ راولم په خیال کښی — دخوار زړه می پکښی کیږی پر یو تل
له رقیبه به هم یو وار په کږ و شې — که له ما به دی ما نې وی تل تر تل
که ئې ستا په در مقیم زه و لیدمه — رقیب سر شه دا بر و په الو تل
زړه می سوړ شه د علو مو له تعلیمه — چه خطوط د زیبا مخ می و لو ستل
دبلبل آه وفغان چه صبا گوش کړ — په چمن ئی د غنچې لب پر انتل
دقضا نساج چه دا تا نسته جار کړه — زما د عشق ئې د پرتا رو نه و غښتل

د «نوری» پرحال خو څه پوښتنه وکړه
په ژړائی د واړه کسی و و تل

د مؤلف اشعار زیاتره له همدغه قبیله څخه دی او د سوی زړه او ژړا ندو ستر گو ترجمانی کوی دسوزؤ گداز او آه فریاد تابلو گانی تشکیلوی او آرام زړونه ناآرامه کوی یالکه د محکوم پښتو نستان پوه فاضل او ستر فقید لېدر او مقتدر شاعر مرحوم عبدالعلی آخنذاده چه وائی.

ولی نگوری وما ته سم پرڅه؟
ژړوی راسره نورعالم پرڅه؟

نورهم دځانه سره ژړوی او وچ لیمه پراوښکو اوژړا راولی، دی ددې نوعی نوری غزلی لری خو مونږ دنمونی او دده دسبك دتمثیل دپاره په همدغه یوه غزله کفایت وکړ.

قوی احتمال لری چه دافاضل دی دیوه مکمل او مدون دیوان څښتن وې ځکه دده دقریحی او دڅو غزلو څخه چه د «نوری» تخلص ځان ته تاکی او ددی گرامر به آخر کښی ئې راوړیدی دده سرشاره شوی قوه او موزونه طبعه معلومیږی نو دا احتمال یقین ته رسیږی چه مؤلف به ډېر اشعار ویلې وی او که ئی راغونډ کړی وی دیوان به ځنی جوړ شوی وی

وی خوداهغه وقت معلومېدلای شی چه دمؤلف دزوکړی ځای اودده اصلی وطن او مسقط الرأس معلوم شی چه په افغانستان کی د کوم ځای دی؟ خوبیاهم دده د ځینو و ینا ؤ څخه چه په دی گرامر کی زموږ تر ستر گو شویدی دا تخمین یقین ته رسیږی چه سړی اصلاً او وطناً دقندهار دښارا دمرکز یادقندهار داطرافو اومربوطاتو څخه ندې او په غالب گمان دده ځای اومسقط الرأس دتوخو اوهوتکوله حدودو څخه چه قلات دې نیولی بیادغزنی تر حدودو بوری پدغو شاؤخوا اطرافو کښی دی اوپه نژاد اوخټه به اغلباً توخی یا هوتك وی ممکنه ده پښتو تولنه دده دځای اووطن اودده دهویت اودیوان په شاؤخوا کښی په فرصت خپل اقدامات شروع اوبدی لار کښی خپله علمی وظیفه پرځای اوجدی پوښتنه او گروېږنه وکړی چه د فاضل سره دادبی آثارو که ئی ولری ژوندی شی .

دکتاب تبویب اوترتیب :

په آخر کښی مونږ عواړو دده د کتاب ترتیب او تبویب ددې دپاره وښیو چه ښاغلو لوستونکو ته د کتاب جامعیت او احتوا ور معلومه شی نو ځکه وایو چه مؤلف خپل کتاب پر یوه مقدمه (تمهید) او دوه مقصدو او یوه خاتمه وېشلی دی په اول مقصد کښی داسم، فعل، حرف ابحاث راوړی او په دوهم مقصد کښی چه د نحوی دپاره ئی تاکی دوه بابونه ایږدی په لمړی باب کښی دمرکباتو اقسام او دجملاتو اجزاء او په دوهم باب کښی دجملې توابع اولواحق او په خاتمه کښی دجملو نحوی ترکیب او تجزیه بیانوی او دټولو په آخر کښی خپل کتاب په پښتو خوږو حکایاتو او خوندور اخلاقی او ادبی و اجتماعی مختصر ولطایفو چه د کتونکو دپاره دتفریح او نشاط سبب گرزی یادخوشحال خان، عبد الحمید کاظم خان شیدا او دخپل ځان په منتخبو او وتلو غزلیاتو پای ته رسوی او خاتمه مومی

ښاغلی حسن «ساپی»

دتاریخ اصول یا دتاریخ دتدقیق طرز

(دوهمه برخه)

ب: ترکیب:

دتاریخی وثائقو اواسنادو له تحلیل او انتقادنه چه کوم معلومات پلاس راځی که څه هم چه زیاتره صحیح اومثبت دی، خو بیاهم نشی کولای چه ماضی حالات ارحادثات په صحیح اومنطقی صورت مجسم اودتېرې زمانې په متعلق دانسان پلټنې اوتجسسی حس تطمین کړی.

داخو ځکه چه په تحلیل کښې تاریخی وثائق اواسناد لکه څنګه چه دمخه موو ویل هریو ځانله په جلا ډول مطالعه او تدقیق کېږی. نو بنا پدې کوم معلومات چه دهغو له تحلیل او تحقیق نه پلاس راځي ځانله ځانله، متفرق اوتوته توته وی

دغه متفرق معلومات د متو دولوجی (تطبیقی منطق) په اصطلاح دمقدماتو او په صنائعو کښی داو لیه یا خامو موادو حیثیت لري.

اولپاره ددې چه مقدمات اوخام مواد ارزښت پیدا کړی باید صناعتی شیء او نتیجه ورکړی هرڅومره چه خام مواد ښه اومقدمات صحیح وی په هماغه اندازد صناعتی شیان ښه او نتیجه تری صحیح راوځی.

ترهغه وخته پورې چه دغه متفرق معلومات ترکیب شوی نه وی صامت او ګونګ ګڼل کېږی. خو کله چه ترکیب شی نو دغه ګونګ معلومات په خبرو راځی

مثلا دراډیو جوړولو او ترمیمولو په یوه هټۍ کښی ګورو چه دیوی راډیو ټول سامانونه لکه لودسپیکر، کانډانسرونه ټیلس فارمر، ګروپونه، او نور پداسی حال کښی چه ټول آز مویل شوی او روغ رمټ موجود دی.

خودو مره ده چه دغه ټول سامانونه هریو جلا جلا په بیلو بیلو تاخچو کښی په متفرق ډول ایښو دل شوی دی. که مونږ هرڅو مره ورته ودریږو له هغو سامانو څخه کوم غږ نشو اوریدلی.

داخو ځکه چه دغه سامانونه په متفرق ډول او په بیلو بیلو ځایو کښی ایښودل شویدی.

که راډیو جوړونکی دازحمت په ځان ومنی چه دیوی راډیو ټول سامانونه له هر ځای نه راټول کړی او په باډۍ کښی دننه هریو په ها خپل ځای کښی کښیږدی اودسیمو نو په ذریعه یوله بل سره دها خپل تخنیکی ارتباط له مخی ونښلوی او دسوچ په ذریعه دبرق قوه وردننه کړی نو سمدستی د دغسی عمل (ترکیب) له امله راډیو په خبرو او غږ یدو پیل کوی اومونږ ئې اورو.

کټ مټ په همدی شان په تاریخ کښی هم د ترکیب عمل همدا رول او همداسی اهمیت لری او ترکیب هم هغه عمل دی، چه دهغه په ذریعه کوم معلومات او حقائق چه د تاریخی وثائقو اواسنادو دتحلیل او تدقیق له

لیاری نه په متفرق ډول لاس ته راغلي دی ، لومړی دهغو ترمنځ منطقي او معقول روابط او مناسبات مفید ګڼل کیږی او بیا دمیندل شو یو روا بطو او مناسبا تو په اساس هغه یو له بل سره تښلول کیږی .

او په آخر کښی دمنظم او یو په بل پوری تښلول شوی حقائق تعبیر او تفسیر او خبر راوستل کیږی . چه دغه عمل ته تاریخی انشأ اود تاریخ تألیف هم ویل کیږی .

« په بل عبارت ترکیب یا تألیف یا تاریخی انشاء هغه عمل دی چه دهغه په ترڅ کښی دثابت شو یووا قعاتو او حالاتو دتسلسل اسباب عوامل اود بشری ژوند اساسی کرښی میندل او یو هیدل کیږی . »

په تاریخ کښی ترکیب په دوه ډوله صورت نشی .

۱ ـ دواقعاتو له مخی خبر ئیه علتو نه میندل : یعنی دیوی تاریخی پیښی دپوره ښکاره کولو دپاره د هغو شرائطو او عوا ملو او علتو نو مندل اوتدقیق او مطالعه کول چه په هغی پیښی تقدم لری او هغه پیښه ئی زیږولی ده . پدغه ترڅ کښی هغه څه چه یو مورخ ئی باید وکړی دیوی تاکلی پیښی تاکلی مقدمات میندل وی چه دابیا دتاریخ اصلي وظیفه ګڼل کیږی . »

مثلا دفرانسی لوی انقلاب (۱۷۸۹م) یوه ستره او درنه پیښه ده لپاره ددی چه دغه پیښه په تمامه معنی تعبیر او تفسیر اوښکاره شی نو باید همه عوامل اوشرائط اوعلتو نه اوحالات چه پخوا موجود ؤاو دغه انقلاب ئی منځ ته راوړ بیدا او تدقیق اومطالعی لاندی ونیول شي .

« څرنګه چه پدغه ترڅ کښی دتولنو (جمعیتو نه) قوانین هم لاس ته راځی نو دترکیب یا تاریخی انشاء دغه طرز دسوسیولوژی (علم الاجتماع) دپاره هم دمطالعی موضوعات اود بحث زمینه تهیه کوی » دغه ځای دی چه تاریخ له سوسیولوژی سره مستقیماً مرسته کوی .

۲ « دتاریخی انشاء یا ترکیب دوهم طرز دادی . چه پدغه ترڅ کښی یواځی دیوی تاکلی پیښی دعلتو نو او عوا ملو په میندلو اکتفا نه کیږی بلکه یو مورخ څو کامه دمخه ځی او کوشش کوی چه هغه قوانین چه دملتونو او انسانیت عمومی ژوند اداره کوی ومومی ، چه ددغه قوانینو په مرسته دا ممکن شی چه دیوی ټولنی راتلونکی اجتماعی اوضاع پخواله راتګه تخمین او تعیین کړی شی . »

مثلا دا جتماعی نحو لا تو دقوانینو په اړ کښی ددغه قانون له مخي چه خصوصی مالکیت په هرزمان او مکان کښی طبقات منځ ته راوړی هرڅوك داتخمین کولای شی که چیر ته فرضاً په سوسیالیستی ولسونو کښی یو ځل بیا خصوصی مالکیت منځ ته راشی ، نو هلته هرومرو دبیا دپاره طبقات منځ ته راځی « دتاریخی انشاء یا ترکیب دغه دوهم طرز چه دهغه په ترڅ کښی دعمومی قوانینو له مخي حادثات یقین او تخمین او ښکاره کیږی دتاریخ له فلسفی سره د هدف له مخي یووالی او مماثلت پیدا کوی » « په هرحال دا باید هیر

نکړای شی چه « ترکیب یا تالیف هغه وخت کیدای شی چه دیوې پېښې د پېښېدو علل او عوامل کشف شی او که نه نو یواځې دتشو واقعاتو یو په بل نښلول کوم ارزښت نلری.»

«دترکیب په وخت کښې مورخ کله کله دداسی مشکلاتو سره مخامخ کېږی چه مورخ دی ته اړباسی چه په هر قیمت چه ممکن وی دغه مشکلات حل اولیرې کاندی مثلاً د تحلیل له لیارې نه د پلاس ورغلو متفرقو معلوماتو په لړ کښې ځینی بیا په زړه پورې او د ملاحظی وړ نه وی که څه هم چه مورخ ته په ډېر زحمت لاس ته ورغلی وی یا داچه ددغو متفرقو معلوماتو دارتباط او نښلولو په وخت کښې د یو لازم معلومات دنشتوالی له کبله یوه خالیګاه او کنده پیدا کیږی نو پداسی حال کښې مورخ مجبور دی چه له یوی خوا هغه حادثات او معلومات انتخاب کړی چه په زړه پورې او د ملاحظی وړ وی او له بلی خوا باید کوشش وکړی چه هغه لازم معلومات چه دهغو دنشتوالی له کبله کنده او خلا پیدا شوې وه په هر قیمت چه وی لاس ته راوړی او هغه خلا او کنده پرې ډکه کاندی.»

«دتاریخی انشاء یا ترکیب په ترڅ کښې مورخ سر بیره پر دعو ذکر شو یو مشکلاتو او مکلفیتو نو یو بل مشکل او مکلفیت هم لری هغه دا چه باید دلوستونکو دذوق لحاظ هم په نظر کښی ونیسی. ځکه ډېر خلك داسی دی چه دتېرې زمانې دفوق العاده پېښو له مطالعې نه ډېر زیات خوند اخلی نسبت دتاریخ حقائقو ته په همدې ډول ډېر داسې خلك شته چه ځینی تعرفې لکه داستانونه نکلو نه کیسی، رومانونه، ډرامی او نور چه تاریخی ارزښت نلری خو دوی ئې د تاریخی معلوماتو دحاصلولو په گومان په ډېر شوق اولی او هغه خلك چه جدی تاریخو نه دتاریخی حقائقو دپلاس راوړلو په منظور لولی دهغو شمېر ډېر لږ وی نو بنا یدې یو مورخ بیا هم مجبور دی چه دپېښو او وثائقو په انتخاب کښی دخلکو دذوقونو لحاظ هم وساتی یعنې نه باید یواځې پدې بسې وی چه حتماً باید یو لړ تاریخی حقائق پر له پسې ثبت کړی ځکه دغه راز تاریخ وچ او بې جاذبی او بې خونده راځی او لوستونه ئې بیا خلك دومره زړه نه ښه کوی.»

«او نباید یواځی دا په نظر کښې ولری چه دده د تاریخ لوستونکی باید ډېر وی او هر څوك ئې په شوق ولولی. ځکه دغسی یوه هیله بیا موجب کیږی چه مورخ له تاریخی حقائقو نه منحرف او حتی منصرف کړی، او دتاریخ کتاب په یو لړ الفاظو او خیالبافیو او نورو ادبی صنائعو باندې ډك کاندی کله چه داسې تاریخ بیا دهغو دپاره چه تاریخ دتاریخی حقائقو پلاس راوړلو دپاره مطالعه کوی هیڅ ارزښت نلری یو پوهاندوائی: «حقیقت تر مجاز ډېر ښه دانسان بدیعی حس په هیجان راولی» په همدې لړ کښی (رنك Rank) آلمانی مورخ هم ویلی دی چه: «تاریخی حقیقت نسبت فرضی ته په څو ځله ښکلی، خوندور او ګټور دی.»

او مو رخ باید پخپلو لیکنو کښې له خیالاتو او اختراعاتو نه لیرې شي او له واقعاتو نه بیخي جلا نشي ،

په ترکیب یا تاریخي انشا یا په ساده عبارت د تاریخ په تألیف او لیکلو کښې کوم اوصاف چه یو مورخ ئې باید ولري او کوم شرائط چه باید په نظر کښې ونیسي ، دادي په لاندې ډول ئې خلاصه کوو :

۱:- ترهرڅه دمخه یو مورخ ته په کار دي چه له تاریخ سره عشق او علاقه ولري ځکه له هغو موادو سره چه مورخ سرو کار لري عموماً یو لړ کونګ او مات او کوډ تیر شوي او مړه شوي مواد دي چه بې له عشق او علاقې نه بل څه اجرأت نه کوي چه له هغو سره په تماس کښې راشي.

۲. مورخ باید د پوره حوصلې او استقامت څښتن وي ځکه چه تاریخي موضوعات عموماً مجمل او کامپلکس وي یعنې یو تاریخي حادثه او وثیقه پخپل ذات کښې مجرده او مستقله نده چه یو الحې دهغې معینې اوتاکلې حادثې یا وثیقې په تدقیق او مطالعه اکتفاء وشي بلکه یوه تاریخي حادثه دډیرو نورو علتونو معلوله ده. او معلول هغه وخت ښه تعریف تعبیر او تفسیر کېدای شي چه علتونه ئې په ښه ډول تعریف او تفسیر شي حال داچه د تاریخي حادثاتو علتونه هم مجمل او کامپلکس دي.

نو بنا پدې دعلت العلل کشفول هغه هم په تاریخ کښې یو ره حوصله او زیات استقامت ایجابوي

۳:- یو مورخ باید دا افاده کړي شي چه حادثات دچاله خوا او څنګه منځ ته راځي یعنې یو حادثه دجبر له مخې پېښېږي او که د اختیار

٤:- کله چه یو مورخ یو حادثه مثلاً د (فرانسې لوی انقلاب) تر څېړنې لاندې نیسي او بیائې لیکي باید د فرانسې په تیر واجتماعي سیاسي او اقتصادي ، اوضاعو باندې ښه خبر وي .

٥:- یو مورخ کله چه یو تاریخ (په هره موضوع کښې چه وي) لیکي باید د خپلې جامعې په تولو اوضاعو او هیلو باندې آګاه وي او پدغه لړ کښې له یوې خوا باید د خلکو ذوقونه په نظر کښې ولري او له بلې خوا د خلکو د ذوق په لحاظ تاریخي حقائق اهمال نکړي

٦- په هغه ژبه چه یو مورخ چه خپل تاریخ لیکي باید په هغې ښه وپوهېږي او دلیکنې لوی لاس یکښې ولري چه بیا دلیکنې په قدرت بې له لفاظیو او خیالبافیو وکړای شي چه ماضي حالات حادثات پداسې ډول حاضر او تصویر کړي چه لوستونکي دا ګومان وکاندي چه دي پخپله دهغې پېښې او حال لید ونکي ؤ .

۷ — مورخ باید دیوې پېښې مکمل سیر ولیکي یعنې دا باید افاده کړي چه یو پېښه مثلاً ۱ په ر ۹۱۷ م) کال د اکتوبر دمیاشتې په ۲٤ د شوروي روسیې لوی انقلاب ، ولې او څنګه پیښ شو څنګه ئې جریان وموند څنګه تېر شو او کوم نتائج ئې وښندل

۸ — یو مورخ ته سر بېره پرزیار او زحمت پوهه او تجربه د تخیل او ذکا قدرت او داستدلال قوت او د قضاوت او تمیز طاقت په کار دي . چه دهغو په مرسته وکړای شي چه د هغو متفرقو او نونه نونه معلومانو ترمنځ چه د تحلیل له لیاري ئې

پلاس راغلی دی منطقی او علمی ارتباط مناسبات ومومی او بیائی سره ونښلوی او دمعلوماتو ترمنځه دلازم معلوم دنشتوالی له کبله که کومه خلا او کنده موجوده وی هغه دخپلی ذکا، خیال او استلال په قدرت ډکه کاندی.

۹ـ او بالاخره اخلاقی جرأت او شهامت، دلهجې صراحت او دطبعی مناعت او لوړوالی صداقت او عدالت دمورخ سره لازم گڼل کیږی او یو واقعی مورخ باید پدغو ټولو صفاتو موصوف وی ځکه ډیر داسې تاریخي حقائق شته چه دهغو لیکل او خپرول په یوه ټولنه کښی د ځینې وگړو په زیان تمامیږی نو باید یو مورخ دغوړه مالۍ او شخص گټې په منظور دهغو دخوشحالولو دپاره تاریخي حقائق تحریف نکړی.

او ځینې تاریخي حقائق بیا داسې دی چه دهغو لیکل او خپرول دیوی پردۍ ډلې په گټه او دمورخ دخپل ولس په زیان تمامیږی دغه ځای دی چه یو مورخ باید دعدالت او صداقت او اخلاق جرئت نه کار واخلي او تاریخي حقائق دخپل ولس دتشجیع او یا نورو منافعو دپاره قربان نکړی

په اصطلاح خپل شکست، غلبه د نورو غلبه شکست او و نه بریښوی داؤ دیوه مورخ لازمه صفات او ممیزات چه دهغو په ذریعه ئی له نورو لیکوالو څخه تمیز او تشخیص کیږی ـ

«باید و ویل شی چه پدغو پورته ذکر شو یو اوصافو او شرائطو باندی یو موصوف او مشروط انسان په بشری ټولنو کښی خال خال پیدا کیږی او هرڅوك نشی مورخ کیدای، په دغه لړ کښی دا په یاد لرل په کار دی چه دمورخ ځینې اخلاقی، صفات او ممیزات لکه اخلاقی جرأت او شهامت انصاف او عدالت دلهجی صراحت او دطبعی مناعت او داسې نور په هره تاریخی موضوع کښی مورد نه پیدا کوی، مثلاً که یو مورخ وغواړی چه د انسان دتکامل تاریخ ولیکی نو پدغه موضوع کښی دمورخ دغه صفاتو او ممیزاتو ته هیڅ ضرورت نه لیدل کیږی ځکه په دغه موضوع کښی چیرې هم داسی یو ځای نشته چه هلته یو مورخ باید د انصاف او عدالت یا دا خلاقي جرأت او شهامت یا د طبعی مناعت او دلهجی له صراحت او داسی نور و نه کار واخلی. البته دیو انسان په خیث نه یو اځی مورخ ته بلکه هر چا ته د دغو صفاتو او ممیزاتو لرل پکار دی.

په همدې ډول دمورخ ځنی ذاتی صفات او ملکات لکه ذکاوت تخیل او استدلال هم په هره تاریخی موضوع کښې یو خاص مورد نه پیدا کوی بلکه ځنی خاص ځایونه دی چه هلته مورخ ته دذکاء، تخیل او استدلال قدرت لرل پکار دی چه مونږ د مخه په (۸) ماده کښې د دغې ذاتی صفاتو او ممیزاتو دپکار یدو خاص مورد وښود

دغه ذاتی صفات ملکات ځکه دتاریخ په هره موضوع کښې مورد نه پیدا کوی چه تاریخ زیاتره یو علم دی نه هنر او ادب مثلاً که یو مورخ د دوهم

بین المللی جنګ (۱۹۳۹-۱۹۴۵) دپېښو تاریخ لیکی، نو پدغه موضوع کښې دامجال نشته چه هلته هم مورخ خپله مخیله، ذکاء، او استدلال په کار واچوی او له ځانه څه وو ائي.

پدغه لړ کښې دفرانسی نومیالی مورخ فوستل دو کولانژ وائي: «ډېر خلک داسې فکر کوی چه مورخ باید دعالی افکار و او اساسی مبادیو او مخصوصو امتیازاتو څښتن وی، او ادعا کوی چه دغه خواوې د یو مورخ په اثر کښې یو روح او یوه جاذبه پیدا کوی او پدی وسیله دواقعاتو غیر مرغوبیت له منځه ځی حال داچه پدغه فکر پسې تلل دتاریخ دماهیت په حقله دیو لوی غفلت سره مخامخېدل دی باید وپوهېږو چه تاریخ دمستظرفه صنائعو یوه څانګه نه ده، بلکه یو علم دی. نو بناپدې په عباراتو کښې د واقعاتو نعښتل او یا هغه د ژورو بحثونو مورد ګرزول دتاریخ له کارونو څخه نه ګڼل کېږی.

هغه څه چه مورخ سوق او اداره کوی هغه یوا ځې دپېښو دصحیح او سمې پېژندنې ذوق او دهغو قطعی درک او پوهېدنه ده او هغه څه چه دی (مورخ ئې لټوی، داسې شیان نه دی چه دده په خیال او منطق کښې دې وجود ولری او ډېرښه مورخ هغه څوک دی چه له متونو څخه لیرې لاړ شي او هغه په ډېر صداقت تفسیر کاندی او خپل تفکرات هم له هغو سره سم مخ په وړاندې بوځی.»

دفوستل دو کولانژ دغه پورتنۍ خبرې که چېرته دتاریخی وثائقو او اسنادو دتحلیل او تدقین په حلقه وی بیخی په ځای او دمنلو وړ دی مګر دتاریخ په ترکیب یا انشاء کښې دومره صدق نه کوی. ځکه کله چه یو مورخ وروسته دتاریخی وثائقو له تحلیل او تدقیق (چه بېخې یوه علمی عملیه ده علمی ذهنیت ایجابوی) په ترکیب یا تاریخی انشا دلاس پورې کوی په حقیقت کښې تاریخی حالات او حادثات دبیا دپاره حاضر او ژوندی کوی یعنی له سره نوی تاریخ جوړوی. چه داعمل (ترکیب) نه یوا ځې په تاریخ کښې بلکه په تولو علومو کښې زیاتره فنی او هنری اړخ لری او نسبت علمی ذهنیت ته فنی او هنری ذهنیت ایجابوی.

سربېره پردی چه دتاریخ ترکیب یا تاریخی انشاء زیاتره یو فن او هنر دی ادبی خواهم لری دا نو ځکه چه تاریخی مطالب زیاتره په کلماتو او عباراتو افاده کېږی نه په عمل او تجربه تو بناپدی دتاریخ ترکیب انشاء ریالستیک ادب، واقعیت او حق لیکنی ته ډېره اړه لری خو دا باید وویل شی چه مورخ دتاریخ په ترکیب یا انشاء یا تألیف کښې باید هرومرو په نظر کښې ولری چه کلمات او عبارات د مطالبو دپاره استخدام کړی نه داچه مطالب دالفاظو او عباراتو دپاره

نوټ: ددغې مقالې په لومړۍ او دوهمه برخه کښې کوم مطالب چه په دغه علامه «» محدود او مشخص شوېدی دحسن عالی یوجل له منطق دفلیسین شاله له متو دولوجی دډاکتر غلام عمر له درسی نوټ نه په کښې په تلخیص او تصرف استفاده شوېده.

ا-ق-ت-ب-ا-س

د مړې ګیډی په
وخت کښی

وئې خندل

- چا ؟

- هو ښیار

- ولی ؟

- ساده په خیال ورغی

- څرنګه ؟

- قبوله ئې کړه

- څه شی ؟

- هغه نظریه چه ده ئې په خوږه ژبه په ده قبلول غوښت

- ساده په خیال ورغی که صادق ؟

- ستا د خوښی د پاره صادق

- صادق اوشاده لکه چه فرق نه لری؟

- هو دغرض خاوند ته .

نه ئې- نه ئې منم - نه ئې منم صادق صادق دی او ساده ساده

د ساده ګانو له
قاموس څخه

«سورریګی»

باید تاسو په دې حقیقت پوه شیء چه الفاظ هم دانسانانو غوندی یو ډول ژوندلری .

ددوی په ژوندانه کښی ارومرو یو وخت داسې هم راځی چه په دغه وخت کښی ـ دوی خلکو ته خپل ځانونه ښکار کوی !

که څه هم د هر یو شی ابتدا مبهمه او په گرز کښی پټه وی او د آغاز صورت ئی غیر معین وی .

تش د یو سیوری او ظل په څیر وی چه له جسم او صورت څخه محروم وی مگر ددی آغاز انجام دغه راز نه وی او دغه مهم دوځانی حالت ارومرو یو شکل او صورت پیدا کوی او یوه ورځ دغه شکل شپړ او او تکمیل کیږی .

نو له دې کبله زه له تاسی څخه داهیله کوم چه ماهیر نه کړیء او ما د یو ې ابتداء په څیر یادولری . او په ډیر صبر او تینګ ایمان دانتها انتظار باسی!

دژوندانه تو له اثاثه دعدم په ظلمت او تیاره کښی پیدا کیږی ،

هیڅ کوم دارازهنداره نشته چه په هغه کښی دغه آغاز خپل عکس واچولی شی مگر هنداره دظلمت دانحطاط یو منزل دی .

او ددې منزل په مخ کښی یو نور دی ـ او بیا یو نور دی او بیا یو نور

داتول منزلونه ستاسو دژوندانه منزلونه دی .

هر کله چه تاسو ما یاد ویء ـ نو زه له تاسی څخه هیله کوم چه د اخیره هم یاده ولریء .

چه کوم عنصر چه تاسو کښی تاسې ته ډیر کمزوری او منتشر ښکار یږی هغه په تولو کښی ستاسو دقوت او استحکام علامه ده .

آیا داخبر حقیقت نه دی چه ستاسو داهډونه اوغوښی اوپوټکی چه ستاسو د بدن قوی اجزادی ستاسو داضعیفه سا دهغو دژوندا نه اساس نه دیء؟ چه ستاسی دغه سایه ظاهر کښی ډېر کمزوری شی دی مگر ستاسو د ډېر قوی وجود دژوند او بقا سبب دی .

آیا هغه شی چه ستاسو ددې ښارونو اوستاسو په خونو او کورونو کښی د موجودو شیانو دپیدا کېدلو باعث شوی دی . هغه په ابتداء کښی یو تش خیال او یوه فرضی مفکوره نه وه ؟

چه نن هغه تاسو هېره کړی ده .

اوستاسو دسا دانازك تارد هغو خیالونو یو یاد گار دی .

تاسو که دسا د مداو جزر به حقیقت پوه شوی یاست نو بیا ستاسو دپاره نورې پلټنې لازمی نه دی .

داځکه چه ددغه کار په اثر به ستاسو علم او معلومات تکمیل شی . نو که تاسی دآغاز د دغه خوب تارونه د خپل عقل دگو تو څخه چاپیر کړیء نو په دغه صورت کښی به ستاسو هیڅ کوم یو بل شی ته حاجت پاته نشی ، مگر اوس تاسی نه گوریء - او نه اوریء ! او نه لیدل کولای شی ! او نه کوم شی اوریدلای شیء ! او ښه خبره هم داده

داځکه چه کوم نقاب چه ستاسو په ستر گو پروت دی دغه نقاب بېر ته کول دهغه چا کار دی چا چه دغه نقاب ستاسو په ستر گو غوړولی وی .

کومی خاوری چه ستاسو غوږونه په هغو بند شوی دی هغه خاوری د هغه

لاس کوتی ستاسو له غوږ وشخه ایستلی شی، کومولاسو چه دغه خاوری ستاسو په غوږونو کښې اچولی دی .

ددغه کار د کېدلو نه وروسته به هغه وخت راشی چه تاسو به هرشی و ینی او اوری !

هرڅه به اوری !

به هغه وخت کښې به تاسو دی خبرې هیڅ افسوس نه کوی، چه زمونږ نظر ولی کمزوری ؤ او زما غوږونه ولی کانړه وو.

دالحکه چه په هغه وخت کښې به تاسو ته دموجود انور راز و نه ښکاره او معلوم شی.

په تاسو به دخپل خفی آغاز انجام واضح شی.

به دغه وخت کښې به تاسو ته ظلمت هم چه ستاسو آغاز و. دومره مبارك او مسعود ښکاره شی، لکه څنګه چه تاسو ته نور چه ستاسو انجام دی مسعود او مبارك ښکاره کېده !

ددې خبرې د خلاصولو نه وروسته هغه ګیر چاپیره و کتل ده په غه سلسله کښې دخپل جهاز مانو ګان ولیدل چه دجهاز په چپوئې لاسونه ایښې او منتظر ولاړ دی .

کله دخپل جهاز بادوانونو ته ګوری او کله د سمندر دپراخی سطح مطالعه کوی.

په غه وخت کښې ده وویل :

زما دجهاز مانو دخومره صبر او حوصلې خاوند دی.

موافق بادونه الوځی او څپې بالکل تیاری دی او تشی اشاری ته انتظار باسی.

مګر په ډېر صبر او خاموشۍ زما انتظار باسی.

زما تولو هغو مانو ګانو چه د هغوی غوږونه د سمندر د موسیقی سره آشنا دی

زما د اخبری په ډېر شوق واوریدلې.

زه اوس نه غواړم چه هغوی زما نور انتظار وباسی!

زه تلو ته چمتو او تیاریم!

د غرونو څخه د چینو او بوځانونه سمندر راورسول.

کوچنیان د میندو غیږونه بیرته ولاړل.

اې د عرفی خلکو د خدای په امان! نن ورځ خلاصه شوه!

که دا یوه ورځ زمونږ د خبرو اترو د پاره کافی نه وی نو یوه ورځ به بیا راشم!

بیا به سره یوځای شو!

تول به یوځای د خپل پاك خدای په دربار کښې د عجز او نیاز لاسونه پورته کړو! او د اسوالونه به وکړو:

ای لویه خدایه! نور را کړه! ډېر را کړه! تر اوسه لاښه نه یو ماړه شوی

او حاجتونه مونه دی تر سره شوی!

ګوری ء هیر مونه شی! چه زه به بیا راشم!

څه موده او څو ورځې وروسته!

زما ذوق دا کوښښ کوی چه بیا د بوبل جسم د ترتیب د پاره خاوری او اوبه جمع کړی.

څو ورځی وروسته ..... چه زه په فنا کښی څه قدر ته دمه جوړه اولږ

استراحت وکړم ـ نوڅه موده وروسته به بیا درته راشم!

رخصت! رخصت! له تاسو نه ـ او دهغه ځوانۍ څخه چه ما تاسو سره یو ځای تیره کړه!

دخدای په امان! برون مونږ ټول دخوب او خیال په نړۍ کښې د یو بل سره آشنا شو.

تاسو به زما په غیاب کښې زما دمینې بدلې ویلې.

ما به ستاسو دپاره په اسمانونو کښې منارې جوړ ولې.

نن مونږ ټول سره راوېښ شوی یو! او اوس مونږ دپاره د بیده کېدلو موقع نشته.

داځکه چه لمر راختلی دی.

مونږ دپاره دیو بل څخه جلا کېدل یو ضروری کار دی.

مگر باید ددې تیروخت او ماضی په رونا کښې مونږ دیو بل لاس ونیسو.

او یو بل سره ډېرې خبری وکړو.

او بیا تاسو زما په یاد کښې بدلی ووایی ء! ـ چه له پخوانو بدلو څخه ډېرې خوزې وی.

بیا به زه تاسو دپاره په آسمان کښې مناره ودانه کړم! چه د پخوانۍ منارې څخه ډېره جگه وی.

ددې وینا نه وروسته ئې ماڼو گانو ته اشاره وکړه.

-۹-

ما نو گانو د جهاز لنگر پورته کړ. او جهاز د لمر خاته په لوری روان شو.

په‌دی وخت کښې دعرفې دخلکو دخولونه یوشوراوځوږپورته شو چه‌دغه شور دشپې په‌تیارو کښې دسمندر په‌لورروان شو .

په‌دغو خلکو کښې یواځې عارفه نومی ښځه چپه‌پاته شوه، چه‌نه ددې دخولې نه چاکوم آواز واوریداو نه کوم یو آه او افسوس !

ارنه له‌دې څخه چا دخدای په امانۍ او وداع کوم لفظ و اوریدا .

ګویادی دانه غوښتل چه‌ددې آواز دعرفې دخلکو د آواز سره ګډ اویوځای شی .

دی په‌ډیره مینه اوپټه خوله دجهاز بادوانونو ته به ډیر حسرت کتل تر څو چه جهاز دسمندر په‌دمه‌اوغبار کښې پټ‌اودد وی دنظر څخه غایب شول هر کله چه‌تول خلک خپاره شول ، نوداتر ډیره وخته پورې دسمندر په غاړه ولاړه وه .

اوپه خپل زړه کښې ئې دتللی اوجلاشوی مسافردا الفاظ په‌ډیره غمجنه لهجه بیابیا تکرارول .

څو ورځې وروسته ـ چه زه خپله دمه‌جوړه او لږ آرام و کړم نو بیا به دیوې ښځې دخیټې څخه بیرته راپیداشم .

(تمت بالخیر)

شعر او فلسفه

وریځی پورته په هوا کښې دی خاګانې ښکته په زمکه کښې .

هغه څه چه په هسکو وریځو کښې شته په ژورو څاګانو کښې هم شته .

په دغو اوبو باندې هم هماغه تنده ماتیږی .

دلوړ خیال او ژور فکر نتیجه یوه ده .

ته! یا خپل نظر ډېر لوړ کړه یا خپل ګرېوان کښې ډېر سر ښکته کړه .

د شاعر او فیلسوف فرق همدغه دی .

زه شعر او فلسفه دغه شان ګڼم .

(لوړ خیالوده او ژور فکرونه)

دپښتو ټولنی دتیر کال خپرونی

۱: لوړ خیالو نه اوژور فکرونه

۲: داور لمبي

۳: پښتانه داقبال په نظر کښی

٤: منطق

٥: افغان قاموس

٦: پښتو نثرونه

۷: پریشانه افکار:

۸: نړۍ په دوه زرم کال کښی

۹: افغان قاموس دوهم ټوک

۱۰: دحنان دیوان

نوی چاپ شوی کتابونه

۱: پښتنی دودونه

۲: غوره نثرونه مؤلف ښاغلی الفت

2 - APR 15
Copy ____ 1958

کابل مجله

تاسی کولای شیء چه په کابل کښي په (٤٠) افغانۍ په د ننه هیواد کښی په (٤٤) افغانۍ په هند کښي په (۱۲) کلداری په نورو د باندنیو هیوادونو کښی په (۳) ډالره لاس ته راولیء

دښوونځیو زده کونکو ته په نیمه بیه.

دیوه کال داشتراک دپاره په کابل کښي همدغه بیه دپښتو ټولنی دمحاسبي مدیریت ته او په ولایاتو کښي دهمدی مؤسسی دجاری شمېر په (۷۸۷٥) لمبر افغانستان بانک ته سپارل کېږی

دولتی مطبعه